

پاڼه
ژیړه شوه
لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر
پیخلیک: زمری / لمریز کال ۱۴۰
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

**ليکي پوهه:**

**سرليک: پانه ورژېده**
**ليکوال:** داکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پخښتی ډيزان:** داکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۲۰
**چاپ نېټه: چنګاښ** / کال ۱۴۰۸
**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸+
**برېښناليک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
۰۰۰۰۰۰۰۰۰

# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پښتۍ.......................................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ......................................................... ۲
لیکي پوهه: ....................................................................... ۳
لړلیک.......................................................................... ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید):.......................................................... ٥
د یاددښتونو له پاره:............................................................. ۷
داستان (کیسه، ناول) ........................................................... ۸
سر چینه:...................................................................... ۱۱۸
د چاپ شویو کتابونو لیسټ ..................................................... ۱۱۹
د کار لاندې کتابونو لیسټ..................................................... ۱۲٥
د وخت او امکان په صورت کې ................................................ ۱۲٦
د پښتۍ څټ ................................................................... ۱۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

**تراڼ (پیل، شروع، برید):**

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إِجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.
هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی.
عظمت، د تولي نړی موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې وغوښتل *پانه ژیړه شوه* تر عنوان لاندې چې حقیقي داستان او په پکتیا ولایت کې تېره شوې، کتاب ولیکم او د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره یې ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجنیران نه دي، او نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ په خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې دېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې وپېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د پخښتۍ انځور د انټرنت څخه اخیستل شوی دی.
- نومونه، پته یا مستعار دي.
- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کوم چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه  د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره  ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: 0093799376998

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
.........

**د یاددښتونو له پاره:**

۱- ............................................................................

۲- ............................................................................

۳- ............................................................................

۴- ............................................................................

۵- ............................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ...........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
.........

## داستان (کیسه، ناول)

تور خان یو غښتلی زلمی، پر پلار او مور خورا ګران و.

هغه د کوشنیوالي نه د راکړې ورکړې یا سوداګرۍ سره مینه درلوده.

پلار به یې هغه له ځانه سره هټۍ ته اوړ(بېوه) کومه چې د ولسوالۍ په بازار کې وه.

ژوند یې ښکلی او د مینې نه ډک و.

سهار به ښوونځي ته، ته او د ښونځي د ختمېدو(رخصتېدو) نه وروسته به خپلې هټۍ ته، ته او تر ماښامه به التهٔ و، د ماښام آذان او لمونځ نه وروسته به خپل پلار سره، کور ته، ته.

هغه د هر چا سره ښه سلوک او رفتار درلود نو ځکه ډېر ملګري او دوستان یې درلودل.

هغوی په هټۍ کې هر راز شیان خرڅول، په دې لحاظ (خاطر، سبب) د هغوی هټۍ نامتو او مشهوره وه.

وختونه تېرېدل او هغه د ځوانۍ نوي پړاو ته، ننوت( داخل کېده).

یوه ورځ د پلار ملګری یې هټۍ ته ننوت.

هغه سلام ورکړ.

پلار یې دهغه سلام ته وعلیکم و وایه او د هغه سره یې روغ بړ وکړ، بیا یې تورخان ته لاس وکړ او د هغه لاس یې کښکاږه.

د هغه پلار ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

تورخان خو غښتلی او ځوان دی.

باید د هغه غمه وخورو.

د تور خان پلار خپل ملګري ته   وويل:

د څه شي غمه يې وخورو؟

ملګري یې و ويل:

خبره سپینه ده.

د هغه د کوژدې.

پلار یې و ويل:

زه او مور يې هم د هغه په سوچ کې یوو.

کوښښ کوو چې په یوې سمې او دینداره کورنۍ کې ورته  یوه ښکلې انجلۍ خوښه کړو.

ملګري یې و پوښتل:

تر اوسه کوم ځای ته، تللی یاست؟

پلار یې و ويل:

هو!

مېرمن مي څو ځایه تللې ده، خو تر اوسه يي کومه انجلۍ نه ده خوښه کړې.

ملګري یې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

دا د نصیب او قسمت خبره ده، هر کله چې یې وخت ورسېد بیا به ټول کارونه سره سم شي.

پلار یې و ویل:

هو!

همداسې ده.

بیا ملګري یې و ویل:

سورګل اکا پېژنې؟

تورخان پلار و ویل:

کوم سورګل اکا؟

ملګري یې و ویل:

هغه سورګل اکا چې په ګردېز ښار کې هټۍ لري.

د تورخان پلار و ویل:

هو!

زوروره!

زه دې حیران کړم چې کوم سورګل ښیې؟

هغه خو ښه پېژنم.

هغه زما سره بلد او ستړي مشې لري.

کله ناکله د هغه نه سودا هم اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڼه ژېړه شوه
..........

کوم وخت چې ستړی اوسم، د هغه په هټۍ کې کېنم (کښېنم) هم دمه جوړوم او هم چای څښم.

هغه ماته ښکلی شین چای دموي او یوه کاچوغه د ګردېز شات (عسل) هم په پیالې کې اچوي او ښه یې ښوروي، تر څو چې خوږ شي.

بیا یې وپوښتل:

ته هغه څه پېژنې؟

ملګري یې و ویل:

هغه زما ماما خسر دی.

زه د هغه سره ډېره ښه راشه درشه هم لرم.

هغه ډېر دیندار او مسلمان سړی دی.

بیا یې و ویل:

غوښتل مې چې تا ته و وایم:

هغه یوه ښکلې، دیندار او پېغله لور لري.

زما په سوچ او نظر د تورخان له پاره مناسبه انجلۍ ده.

تاسو دواړه سوداګر یاست، تاسو ښه سره جوړېږئ.

د تور خان پلار و ویل:

تا ښه خبره وکړه.

که هغه یې مونږ ته را نه کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري يې و خندل او ويې ويل:

ته هم زوراور سړی يې.

دا ده، زه دې واسطه يم.

د تورخان پلار وخندل.

بيا يې و ويل:

ته مخکې شه او زه به در پسې شم.

ملګري يې و ويل:

سمه ده!

لمړی زه د ماما خسر سره مې خبره کوم، بيا تا ته خبر درکوم.

تورخان پلار و ويل:

سمه ده!

زه به په دې هکله د تورخان د مور سره هم مشوره وکړم.

ملګري يې و منه.

بيا د تورخان پلار و ويل:

زوروره!

زه دې په کيسو (قيسو) کې بوخت کړم، چای دې رانه هېر کړ.

بيا يې تورخان ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
۰۰۰۰۰۰۰۰۰

اله (هله) د سماوار نه کاکا ته دې یوه چاینکه شین چای راوړه، هغه ته و وایه چې  په چای کې لږ ایل (هېل) واچوي او تازه ګوړه (ګړه) هم درکړي.

تورخان و ویل:

سمه ده!

هغه د چای پسې لاړ.

د تورخان پلار کټ سوري ته کش کړ او خپل ملګري ته یې و ویل:

راشه پر توشکې کښېنه او پر بالښت ډډه وکړه.

ملګری یې و ویل:

سمه ده!

هغه پر توشکې کښېناست.

بیا یې بالښت ډډې ته نږدې او پر  هغه یې تکیه  و وهله.

آسمان ته یې و کتل.

په زړه کې یې و ویل:

خدایه!

ته مې مل( مدد ګار) شه!

څو دکیکې (دقیقې) لا نه وې تېرې شوې چې تورخان را ورسېد.

هغه چای او کوړه  راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

بیا يې چاینکه پر ځمکې کښېښوده او د ګوړې غاب يې پر کټ کښېښود.

هټۍ ته د ننه او لرګي کوشنی میز ګوټي يې د هټۍ نه د باندې او کټ ته مخامخ کښېښود.

بیا هټۍ ته دننه شو.

پیالې يې له هټۍ نه راواخیستې او پر میز يې کښېښودې.

پیالې يې د چای سره کنګال (اوکش) کړې.

په پیالو کې يې چای واچاوه.

یوه يې د پلار ملګري، دویمه يې خپل پلار ته نږدې کړه.

د ګوړې غاب يې هم د کټ نه واخیست او پر میز يې کېښښود.

بیا يې بله پیاله واخیسته او ځان ته د چای نه ډکه او هټۍ ته د ننه شو، الته يې پر چای ښښلو پیل کړ.

د هغه پلار او ملګري يې پر چای ښښلو او غورو پیل کړ.

کله به يې کیسې او کله به يې په کړسس خنداوې کوې.

تورخان د ننه په هټۍ کې بسیا و.

ګړۍ (ساعت) تېره شوه.

ماښام شو.

اوا(هوا) لږ، لږ تیاره شوه.

د چونچونو غږونه پیل شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

ملایانو هم اذانونه وکړل.

د تورخان پلار خپل ملګري سره جومات (ماجت، مسجد) ته روان شوو.

تورخان خپل مونځ (لمونځ) په هټۍ کې ادا کړل.

لږ څنډ وروسته هغوی بېرته ستانه شوو.

اوا نوره هم تیاره شوه.

تورخان د هټۍ څراغونه ولګول (روښانه) کړل.

په دې وخت کې تورخان پلار ملګري و ویل:

نن ښه ورځ وه.

هم مې ته ولیدې او هم مې وخت ښه تېر شو.

بیا یې زیاته کړه.

د چای نه دې یوه نړۍ مننه.

اوس زه خپل کور ته ځم او اخیستې سودا به کور ته یوسم (ورسوم).

تورخان پلار و ویل:

چېرې ځې؟

شپه زما سره تېره کړه.

غورې به وکړو.

سهار چای نه وروسته به، لاړ شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

هغه و ويل:

مننه کوم.

بيا به کوم بل وخت، راشم.

د اولادونو مور لږ ناروغه ده، بيا به ټول په سوچ (تشويش) کې شي.

تور خان پلار چې هر څومره ټينګ شو، هغه و نه منه.

بيا تورخان پلار و ويل:

سمه ده!

بل وخت به، شپه را سره کوئ.

دا ځل خو دې هسې بانه (بهانه) وکړه.

ملګري يې وخندل او ويې ويل:

نه!

په رښتيا ناروغه ده.

بل ځل چې راغلم، بيا اتمن (حتمآ) در سره شپه کوم.

تورخان پلار و ويل:

سمه ده!

بيا ملګري يې تورخان پلار او تورخان سره، خدای پاماني وکړه او کور خوا روان شو.

څو کدمه (قدمه) چې لاړ، تورخان پلار پرې غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
.........

د تورخان موضوع دې له یاده و نه وځي.

ملګري یې و ویل:

نه با با!

ته څه وایې؟

زه ښه فکر لرم.

بیا د تورخان پلار و خندل او ویې ویل:

سمه ده!

په مخه دې ښه!

ملګری یې خپل کور ته روان شو او تورخان پلار خپل زوی ته و ویل:

شیان راټول کړه!

ما او تا به هم کور ته لاړ شوو.

زوی یې و ویل:

سمه ده پلاره!

بیا دواړو د شیانو په ټولولو پیل کړ.

شیان یې ټول او هټۍ ته، د ننه کړل.

بیا یې د هټۍ څراغونه مړه (بند) کړل.

د هټۍ دروازه یې و تړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

بیا یې د هټۍ د باندې څراغ ولګاوه (روښانه کړ).

تورخان د کور سودا کڅوړه واخیسته او دواړه کور خوا ته روان شوو.

څو د کیکې یې د پښو مزل وکړ.

څه ځنډ وروسته، کور ته ورسېدل.

د کور ور (دروازه) تړې وه.

تورخان ور (دروازې) ته نږدې شو او ور یې وټکاوه.

ورور یې ور ته ورسېد.

هغه ور خلاص کړ، پلار او ورور ته یې سلام واچاوه.

پلار یې د هغه سلام ته وعلیکم و ویل، بیا دواړه انګړ (کور حوېلۍ) ته، د ننه شوو.

د ناستې کوټې (خونې) خوا ته لاړل.

مخې ته یې د تورخان ښځه راووته او سلام یې ورکړ.

تورخان پلار د هغې سلام ځواب ورکړ، بیا یې د سودا کڅوړه د تورخان نه واخیسته او هغه ته یې و ویل:

خیرت خو به وه، نن ناوخته کور ته راغلې؟

تورخان و ویل:

خیرت و.

د پلار یو ملګری یې ځنډ وروسته هټۍ ته راغلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه سره په کيسو بوخت و.

مور يې و ويل:

سمه ده!

ايتيات (احتياط) کوئ.

په دې ورځو کې غله هم ډېر شوي دي.

تورخان و ويل:

سمه ده!

کوښښ کوو.

بيا ټول ناست خونې ( کوټې) ته، د ننه شول.

کيسې پيل شوې.

د تورخان مور و ويل:

ډوډۍ تياره ده، ويې باسم؟

ټولو و ويل:

هو!

بيا د تورخان مور او مشره خور يې پخلنځي ته لاړل، ډوډۍ يې په غوريو، غابونو کې و باسه او ناست خونې ته يې د ننه کړه.

د تورخان کشر ورور هم کوزه او چلمچي (آفتاوه او لګن) د ننه او د لاسونو پر مينځلو يې، پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
. . . . . . . . . .

لاسونه پرېمنځل شوو او دسترخوان هم اوار (هموار) شو.

ډوډۍ، د څښلو اوبه، میوه، ترکاري، غوري او غابونه هم پر دسترخوان کښېښودل شوو.

ډوډۍ د بسم الله په ویلو سره پیل شوه.

د تور خان پلار هم کیسې کوي او هم یې ډوډۍ خوړه.

ټولو ډوډۍ په خوند سره وخوړه.

لوښي او دسترخوان ټول شول.

د چای و خت ورسېد.

چای هم و څښل شو.

شپه پخه او هریو خپلوخونو (کوټو) ته لاړل.

د تورخان پلار او مور هم خپلې خونې ته لاړل.

البته یې د ورځې تېره شوې کیسه، خپلې ښځې ته وکړه.

ښځې یې و ویل:

خدای وکړئ چې د تورخان کور آباد شي.

بیا څنډ وروسته، په خبرو، خبرو د تور خان پلار ویده شو.

ښځه یې هم څه څنډ وروسته بیده شوه.

ګړۍ تېرې او سهار شو.

ښځه او مېړه لمانځه ته پاڅېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

اودسونه، بیا لمنځونه یې ادا کړل.

د کور نور غړي یې هم د لمانځه له پاره پاڅول.

تور خان هم پاڅېد، لمړی اودس بیا یې لمونځ وکړ.

مور یې د پخلنځې خونې ته روانه او لوی چایجوش یې پر نغري کېښېښود.

چای دم او ټول د ناست خونې کې را ټول شوو.

چای وڅښل شو.

تورخان او پلار یې هټۍ خوا ته روان شوو.

څو ورځې تېرې شوې.

تورخان د پلار ملګری، د خپل ماما خسر سره یوې پایلې ته رسېدلی و.

د پلار ملګری یې د وعدې سره سم هټۍ ته، راغی.

روغبړ نه وروسته، پر کټ کښېناست او پر خبرو یې پیل کړ.

هغه د تور خان پلار ته و ویل:

ما د خپل ماما خسر سره خبره وکړه، ستا او تورخان صفتونه مې ډېر وکړل.

هغه لږ وخت واخیست او ویې ویل:

زه به په کور کې مشوره (مشورت) وکړم، بیا به سبا تا ته و وایم.

ورځ وروسته بیا د هغه هټۍ ته لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خوښ ښکارېده او ويې ويل:

د تورخان پلار ته  زما سلامونه و وايه !

ور ته و وايه چې ښځې زمونږ کور ته ولېږي، تر څو انجلۍ و ګوري او خبرې اترې هم وکړي.

که چېرې دواړه خواوې پايلې ته ورسېږي، بيا با نارينه او ښځې ګډې راشئ.

مونږ به د رواج سره سم، هغوی ته دسمال (دستمال) اوشېريني ورکړو.

د تور خان پلار ومنه او خورا خوشحاله شو.

بيا يې خپل ملګری ته و ويل:

مننه کوم چې غوټه دې خلاصه کړه.

کور ته چې لاړم، خپلې ښځې ته به و وايم.

خبرې اترې، ټوکې ټکالې پيل شوې.

تورخان په هټۍ کې بوخت و.

وخت تېر او ماښام شو.

ملګري يې اجازه (رخصت) واخيست او خپل کور ته روان شو.

تور خان هم د خپل پلار سره، کور ته روان شوو.

کورته، رسېدو سره سم د تورخان پلار د جلۍ رايباری (غوښتنه خاستګاری، خواستګاری، طلبګاری، لور پور) خبره ياده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

تورخان مور ومنه او ویې ویل:

سمه ده!

څه چې نصیب او قسمت وي.

شپه تېره او سهار شو.

تور خان مور خپلو نږدې ګاونډیانو کورونو ته لاړه او د هغوي یې وغوښتل چې ملتیا وکړي.

هغوي هم د تورخان د مور خبره ومنه.

تورخان مور او څو نورې ګاونډیانو ښځې تیارې شوې.

هغوی ټول په یوه ګاډې (موټر) کې کښېناستل او انجلۍ کور ته روان شول.

څنډ وروسته الته (هلته) ورسېدل.

کور ور (دروازې) ته یې ګاډی ودراوه او ښځینه د موټر نه کوز (ښکته) شول.

ور یې و ټکاوه.

یوه ښځه دروازې ته راغله.

دروازه یې خلاصه او د ښځو سره یې ستړي مشې و کړه.

بیا یې هغوی ته و ویل:

ناست خوني ته راشئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
. . . . . . . . . .

ټول ناست خوني ته د ننه شوو.

بیا پر توشکو کښېناستل او بالښتونو ته یې ډډه و وهله.

خبرې اترې پیل شوې.

چای دم او انجلۍ چای مېلمنو ته راوړ.

ټولو سره یې سترې مشې وکړه.

د تور خان مور و پوښتل:

انجلۍ خو به همدا وي؟

د انجلۍ مور و ویل:

هو!

همدا په خپله ده.

بیا د تور خان مور موسکۍ شوه.

خبرې اترې ډېرې شوې.

لږ ناوخته شوه.

ښځو و ویل:

اوس مونږ خپلو کورونو ته ځوو.

بیا به د جمعې په ورځ، نارینوو سره راشو.

تاسو به دسمال تیار کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
٠٠٠٠٠٠٠٠٠٠

د انجلۍ مور و ویل:

سمه ده!

ښځې ولاړې او د ناست خونې نه، و وتې.

لمړی انګړ بیا یې د انجلۍ د مور سره خدای پاماني وکړه او دروازې نه، د باندې شوې.

د باندې د هغوي ګاډی ولاړ و.

هغوي په ګاډي کې کښېناستل او خپلو کورونو ته لاړل.

څو ورځې تېرې شوې.

پنجشنبې ورځ راورسېده.

د تور خان پلار خپل ورونه، کور ته و بلل او خپلو ورونو ته یې و ویل:

سبا له خیره جمعه ده.

جمعې ته به ټول د تورخان رایباری (خواستګاری) ته لاړ شوو.

ورونو یې ومنه.

هغوی د چای څښلو نه وروسته، خپلو کورونو ته لاړل.

ورځ تېره او سبا شو.

د هغه ورونه ورسېدل.

بیا د تور خان پلار یو بل ګاډی هم و غوښت.

ښځې په یوه او نارینه په بل ګاډي کې، کښېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

ګاډي روان شوو.

څنډ وروسته ټاکلي ځای ته ورسېدل.

ګاډي هم دروازې ته نږدې ودرېدل.

هغوي ورو، ورو د ګاډو څخه کوز شوو.

د تور خان پلار د مخه شوو.

دروازه يې و ټکاوه.

د انجلۍ پلار دروازې ته راغی.

دروازه يې خلاصه او د نارينوو سره يې، روغبړ وکړ.

بيا يې ښځو ته وويل:

تاسو د ننه شئ!

په سړک نارينه ښکته پورته کېږي.

د خبر اورېدو سره، ښځې انګړ ته، د ننه شوې.

نارينوو ته يوې او ښځينوو ته، بلې خونې ته بلنه ورکړ شوه.

هغوی خونو ته ننوتل او بيا پر توشکو کښېناستل.

خبرې اترې پيل شوې.

چايونه دم او خونو ته راوړل شوو.

د چايو سره خوږ کېک، کلچې او پتاسې هم وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

چای هم و ځښنل شو.

وخت مازدیګر شو.

د تورخان تره و ویل:

خبرې خوږې دي.

زمونږ لاره لرې ده.

ښه به دا وي چې دسمال واخلو او کورونو ته لاړ شوو.

د انجلۍ پلار و منه او د خونې نه د باندې شو.

ښځې ته یې غږ کړ.

ښځه یې د خونې و وته او ویې ویل:

څه وایې؟

د انجلۍ  پلار و ویل:

دسما ل تیار (آماده) دی؟

هغې و ویل:

هو!

بیا هغه و ویل:

سمه ده!

هغه راوړه چې د تورخان پلاوي ته یې ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

هغې و ويل:

سمه ده!

هغه بلې خونې ته ننوته، دسمال يې راوړ او د انجلۍ پلار ته يې ورکړ.

د انجلۍ پلار دسمال د ننه او د تورخان مخې ته، کښېښود.

د تورخان پلار دسمال واخيست او په پتنوس کې يې د رواج سره سم څه پيسې کښېښودې.

بيا د تورخان پلار د ښځو نه وغوښتل چې ولاړې او خپلو کورونو ته لاړ شوو.

هغوی هم ولاړې او د خدای پامانۍ نه وروسته دروازې، بيا د انګړ نه د باندې شوې.

نارينه هم د انګړ نه و وتل او په ګاډو کې کښېناستل.

ګاډي چالان او کورونو خوا ته، روان شوو.

ښځو په بدلو او لاسونو پړکولو پيل کړ.

چلونکي ( ډرېور) هم د ګاډي ټېپ ته، مسته کسېټه واچوه او غږ يې اوچت کړ.

خوشحالي نوره هم زياته شوه.

اوا (هوا) توده وه.

چلونکي د ګاډي ښيښې (شيشې) ټيټې (ښکته) کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

د بدولو او لاس پړکولو غږ (اواز) اوچت وو.

هر چاه موټر ته کتې.

د خوشحالۍ لاره لنډه شوه.

هغوي خپلو کورونو ته ورسېدل.

ګاډي ودرېدل او کسانو په ښکته کېدو پيل کړ.

په کورونو کې پاتې کسانو، ګاډو ته منډې کړې، په ګاډو او کسانو باندې يې ګلونه، شېرينۍ، نوقلونه او پيسې وشيندې.

هغوی ته يې ستړي مشې او ښه راغلاست و وايه.

بيا ټول د خوشحالۍ سره، د تورخان پلار کور ته د ننه شوو.

لمړی انګړ بيا خونو ته لاړل.

چايونه دم شول او خونو ته راوړل شوو.

نارينه يوې او ښځينه بلې خونې ته لاړل.

د تورخان مور ټيپ راواخيست او يو کسېټ يې په کې واچاوه.

سندره مسته وه.

ښځو په ګډاوو پيل کړل.

اتڼ هم وشو.

ورو، ورو تياره شوه.

په آسمان کې ستوري ښکاره شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

بیا ښځې، سرې پاڅېدل او د تورخان پلار او مور ته یې موبارکي (مبارکي) و ویله.

د تورخان پلار او مور هغوی ته د شپې د پاتې کېدو بلنه ورکړه.

مېلمنو مننه وکړه او ویې ویل:

اوس نا وخته ده.

تاسو هم ستړي یاست.

ښه به داوي چې خپلو کورونو ته، لاړ شوو.

بیا د تورخان مور و ویل:

څرنګه چې خوښ یاست.

کوټې ډېرې او توشکې هم پرېمانه دي.

اوا (هوا) هسې ښه او برستنو ته اړتیا نه شته.

مېلمنو و ویل:

مننه کوو.

بیا کوژدې او واده ته به راشو.

د تور خان مور و ویل:

سمه ده!

مېلمانو خدای پاماني واخیسته، لمړی له انګړ بیا دروازې نه، و وتل.

د تورخان پلار او مور د مېلمانو سره تر دروازې اخوا، و وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

د هغوي کورونه نږدې او په پښو روان شول.

د تور خان پلار او مور بېرته انګړ ته، د ننه شول.

بیا ناست خوني خوا ته لاړل.

ټول خوشحاله ښکارېدل.

شپه شوه، د شپې ډوډۍ تیاره او خوند سره وخوړل شوه.

دسترخوان ټول او شین چای هم ورسېد.

خبرې اترې اوږدې او شپه پخه شوه.

بیا هغوی، شپه جوړه او بیده شول.

سهار وختي پاڅېدل.

لمونځونو نه وروسته، سهار چای و ښنل شو.

تور خان او پلار یې، هټي ته روان شوو.

وختونه تېرېدل او د هغوی د کورنیو تګ راتګ هم پیل شو.

څه وخت تیر او د تورخان پلار او مور الته لاړل.

هغوي د کوژدې په هکله و غږېدل.

د کوژدې پرېکړه تر سره شوه.

څو ورځې نورې هم تېرې شوې.

بیا د کوژدې مراسم (رسم او رواج) هم په خوشحالۍ سره، تر سره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژبړه شوه
..........

کال تېر او د واده وخت ورسېد.

د واده ورځ وټاکل شوه.

د تورخان خسر کور ته خرڅ (خرچه، خرچ) ولېږل شو.

تورخان پلار د واده له پاره، بلنلیکونه ولیکل، خپلو او خپلوانو ته یې واستول (ولېږل).

د واده ورځ راورسېده.

دېګي باندي او انګړونه فرش شوو.

توشکې هم اوارې شوې.

مېلمانه یو د بل پسې راغلل او پر توشکو کښېناستل.

ساز او سرود پیل شو.

ځوانانو اتڼونه پیل کړل.

ښځو هم په بدلو ویلو بینا (پیل) وکړه.

د غرمې ډوډۍ وخوړل شوه.

خلکو په ټګ پیل کړ.

ځینې نږدې دوستان پاتې شول.

هغوي ته چایونه راوړل شوو.

بیا سره راټول او ناوې پسې روان شول.

د تور خان  خسر کور ته، ورسېدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

دروازه خلاصه وه.

د تورخان خسر د سړک پر سر ولاړ و.

هغه مېلمنو ته ښه راغلاست و وایه.

بیا یې ټولو ته د ننوتو بلنه ورکړه.

مېلمانه هم د ننه او ټاکلو خونو ته د ننه شول.

چای راوړل او په پیالو باندې و وېشول شو.

بیا د تورخان پلار ملا صیب نه وغوښتل چې نکاح وتړي.

ملا صیب هم مخ ته شو.

د ټولو په خوښې سره دوه شاهدان وټاکل شول.

یو یې د انجلۍ او بل یې د الک له خوا وو.

شاهدانو خپل کار پیل او د ټولو خلکو په مخ کې یې شهادت ورکړ.

بیا ملاصیب د نکاح خطبه ولوسته.

نکاح وتړل شوه.

ملا صیب پتنوس ته لاس وړاندې، څه نقل یې واخیستل او پر تورخان یې وشیندل.

بیا یې تورخان او دهغه پلار ته، مبارکي و ویل.

نورو هم هغوي ته مبارکی و ویله.

تور خان پلار د تورخان خسر نه و غوښتل تر څو ناوې تیاره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

ناوې تياره او نارينه هم د خونو و وتل.

بيا هغوي د انګړ نه، د باندې شوو.

ښځې هم د خونو و وتې او پر بدلو يې پيل کړ.

بيا ورو، ورو له انګړ نه د باندې شوې.

د تورخان مور خپله ناوې سره د انګړ نه و وته او په ګلپوښ موټر کې کښېناسته.

تورخان هم د ناوې په موټر کې کښېناست.

راغلي کاډي هم چالان او کسان په کې، کښېناستل.

ګاډو حرکت وکړ.

ماشومانو په ګادو کې په نڅاوو، پيل کړل.

ښځوو هم بدلې ويلې.

ځنډ وروسته هغوي کور ته ورسېدل.

د رسېدو سره سم د ګاډي ټاير ته، سپين چرګ حلال شو او وينه يې پر ټاير و مښل شوه.

بيا چلونکي منده کړه او حلال کړی چرګ يې واخيست.

ناوې هم د ګاډي نه ښکه د ښځو سره په کور، د ننه شوه.

ښځو بدلې او دايراو په وهلو پيل کړ.

ورو، ورو ناست خونې ته د ننه شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

الته ښځینه مېلمانه کښېناستل.

نارینه هم بلې خونې ته لاړل.

چایونه دم او و وېشل شوو.

اوا (هوا) لړ، لړ تیاره شوه.

مېلمنو په تګ پیل کړ.

د شپې ډوډۍ وخوړل شوه او چایونه هم دم او و وېشل شوو.

شپه پخه شوه.

بیا د تورخان مور د ناوې اوشانه و غوښتل چې خپلې خونې ته لاړ شي.

هغوی پاځېدل او ټاکلې خونې خوا ته روان شوو.

د هغوي سره د تورخان مور هم خونې ته روانه شوه.

درېواړه خونې ته د ننه شوو.

تورخان مور هغوی ته د نوي ژوند مبارکي و ویله او بیا بېرته و وته.

هغه هم خپلې خونې ته لاړه.

شپه پخه او ټول ستړي ستومانه بیده شوو.

اونۍ تېره او د تخت ټولولو( تخت جمعي) مراسم د دود سره ولمانځل شو.

ورځې شپې او شپې ورځې کېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
.........

وختونه تېرېدل.

کال تېر شو.

د تورخان ښځه ناروغه شوه.

تورخان او د هغه مور، هغه یې نږدې روغتون ته، یوړه.

بیا هغه په روغتون کې بستره شوه.

ګړۍ وروسته د هغې زوي نړۍ ته سترګې خلاصې کړې.

د هغوي په خوشحالۍ نوره هم خوشحالي راغله.

هغې الته، دوې شپې تېرې کړې بیا د ماشوم سره کور ته لاړل.

پر سبا یې هغه د جومات ملا امام ته یووړ، تر څو په غوږ کې یې آذان وکړي.

ملا امام هم د هغه په غوږ کې اذان وکړ.

بیا یې د هغه نه وپوښتل:

نوم دې څه وربانې ایښی دی؟

هغه و ویل:

تر څو مې پرې نوم نه دی ایښی.

خو زما زړه دی پر هغه، زمری نوم کېږدم.

ملا امام و خندل او ویې ویل:

د حیواناتو نومونه ایښودل پر انسانانو ښه کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰

باید پر هغه یو ښه، غوره او اسلامي نوم کېږدي.

تور خان وخندل او و یې ویل:

سمه ده ملا صیب!

مونږ به هغه ته ښه نوم وټاکو، مګر په کور کې به ورته، زمری و وایو.

بیا ملاصیب وخندل او و یې ویل:

هرڅه چې ستاسو خوښه وي.

مبارک دې وي.

تورخان مننه وکړه او هغه ته یې چاکلېټ ورکړل.

ملا هم د هغه نه مننه وکړه.

بیا تورخان الک (هلک) په غېږ کې واخیست، د ملاصیب نه یې خدای پاماني واخیسته او کور ته روان شو.

ماشوم یې خپلې ښځې ته ورکړ.

هغه بلې خونې ته د ننه شو، الماری ته نږدې او د الماری پله یې خلاصه کړه، څه خوږه یې راواخیسته او کوځې ته و وت.

خوږه یې پر ماشومانو و وېشه.

بیا بېرته، انګړ ته د ننه شو.

خپلې خونې ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

پر توشکې کښېناست او د چای ترموز يې ځان ته نږدې کړ.

بیا يې ښځې ته و ويل:

تا ته چای واچوم؟

هغې و ويل:

هو!

ما ته هم چای واچوه.

هغه خپلې ښځې ته چای واچاوه بیا د خوړې غاب يې هم ورته نږدې کړ.

ماښام او شپه شوه.

د شپې ډوډۍ وخوړل شوه، چای هم و څښل شو.

څنډ وروسته بیا بیده شوو.

سهار وختي پاڅېد.

د پخوا په پېر (شان، څېر) لمونځ او بیا د چای څښل ونه وروسته هټۍ ته لاړ.

وختونه تېرېدل او ماشوم هم لوېده.

کال تېر شو.

بل کال هم هماغسې تېر شو.

درېیم کال ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڼه ژېړه شوه

..........

د تورخان ښځه بیا امېندواره (حامله داره) شوه.

په کور کې خوشحالي نوره هم، ډېره شوه.

نهه میاشتې تېرې شوې.

د هغې د زېږون و خت ورسېد.

د کلي نایې (دلاک، سلمان) ښځې د تورخان ښځې سره، په زېږون کې مرسته وکړه.

تورخان ته داخل، خدای ښکلې لور ور په برخه کړه.

هغه په کور کې دې نړۍ ته راغله.

تور خان ملا صیب یې کور ته و غوښت.

ملا صیب د هغې په غوږ کې هم آذان وکړ.

تورخان د ملاصیب نه مننه وکړه او خوږې غاب یې هغه ته ورکړ.

ملا صیب د دعا نه وروسته، هغه ته مبارکي و ویله، د تور خان نه خدای پا ماني واخیسته او د کوره و وت.

په دې وخت کې د نایې ښځه له ځایه پاڅېده او انګړ (غولي) ته لاړه اخوا دېخوا یې وکتل.

تازه ګلان نه ول.

بیا یې و نې ته وکتل.

ونې ته نږدې شوه، یوه څانګه یې راښکته کړه، بیا یې ترې ښکلې او تازه پاڼه وشکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

..........

پانه يې د تورخان ښځې ته ورکړه.

هغې ته يې مبارکي و ويله.

بيا يې د تور خان ښځې ته و ويل:

که زما په زړه کوې، پر هغې نوم پانه کېږده.

هغه په خندا شوه او ويې ويل:

ښکلی نوم دی خو، بايد د تورخان او د هغه کورنۍ سره يې ګډ ( شريکه) کړم.

د ناين ښځې و ويل:

سمه ده!

خدای وکړي چې هغوی يې هم خوښ کړي.

ورځ تېره او ماښام شو.

ټول ناست خونې کې ټول شوو.

د شپې ډوډۍ تياره شوه.

د ډوډۍ پر سر د انجلۍ د نوم کوم چې د ناين ښځې خوښ کړی و، ياده شوه.

هغوی هم د ناين د ښځې نوم ايښودو سره يو (موافقه) شوو.

بيا يو بل ته، هغوي مبارکي و ويلې.

وختونه تېرېدل، زمری او پانه هم لوېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

دوه کاله نور هم تېر او د تورخان ښځه بیا امېندواره (حامله) شوه.

دا ځل بیا تورخان ته خدای یو ګلالی الک (هلک) ور په برخه کړ.

هغه تک سپین و.

پر هغه یې نوم سپین غر کېښېښود.

څه وخت نور هم تېر شو.

لمړی یې پلار په حق ورسېد (وفات شو)

دوه کاله وروسته یې مور هم په حق ورسېده.

د تورخان کارونه اودندې نورې هم ډېرې شوې.

کوم کارنو کې چې پلار د هغه سره مرسته کوه، ټول د ده پر غاړه شول.

هغه په سختئ سره کارونه مخ ته بېول.

هټئ یې په کرایې ورکړې.

ځان ته یې یواځې یوه هټئ پرېښوده.

هر ماښام به ستړی ستومانه کور ته، ته او سهار وختي به له کور نه واته او پر هټئیو به ګرځېده.

یوه ورځ چې ډېر خپه په هټئ کې ناست و، ملګری یې د هټئ مخې نه تېرېده.

د تورخان پرې پام شو او هغه ته یې غږ کړ.

هغه هم ستون او هټئ ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
.........

بیا تور خان ورته بلنه ورکړه او د هټۍ مخې ته پر کټ کښېناست.

خبرې اترې پیل شوې .

ملګري یې و پوښتل:

ځنګه خپه ښکارې؟

تور خان و ویل:

پخوا ښه وه.

پلار به مې، زما سره مرسته کوه.

اوس یوازې پاتې یم، کارونه هم خورا ډېر دي.

ملګري یې و ویل:

هو!

پوهېږم!

زما په اند (نظر) ته باید یو مزدور ونیسې چې هم په کور کې کار وکړي او هم به درسره په سوداګرۍ کې.

تور خان و ویل:

ستا خبره خو، خورا ښه ده.

اوس زمانه خرابه شوې.

پر چا اعتبار کول هم ستونزمن (سخت) کار دی.

ملګری یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

ستا خبره سمه ده.

په رښتیا هم اعتماد کول ستونزمن کار دی.

دا دنیا لکه ځنګل دی، په ځنګله کې ښه او بد شته.

بیا ملګری یې زیاته کړه، غوره به دا وي چې یو کوشنی الک (هلک) د کومې بېوزلې کورنۍ نه و مومې.

هغه به تر لاس لاندې وروزې او پر هغه به هم د کور او سارا (صحرا) کار وکړې.

هم به دې ثواب شي او هم به دې دمه جوړه شي.

تورخان و ویل:

ستا خبره هم ښه ده.

تر څو چې الکان لوېږی، زه به د داسې الک په لټه کې شم.

ملګري یې و ویل:

زه یو کس پېژنم چې خورا بې وزلی او په کرایي کور کې ژوند کوي.

هغه دوه زامن لري.

پلار یې په بازار کې لاس ګاډی لري، د خلکو سوداوې له یوې خوا نه بلې خوا او کورونو ته وړي.

ډېر بې وزلی او ښه سړی دی.

که موافق یې زه به د هغه سره خبرې وکړم او یا که وخت لرې، دواړه به لاړ او د هغه سره به، خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورخان و ویل:

سمه ده!

ځنګه به هغه و مومو.

د هغه ځای روښانه (معلوم) نه دی.

دوی په خبر اترو بوخت وو.

یو ناڅاپه (نابېره) هغه د هټۍ له مخې تېر شو.

په لاس ګاډي کې یې څه بار او په چالاکۍ سره روان و.

د تورخان د ملګري پرې پام شو.

تورخان ته یې و ویل:

هغه ده، په خپله ده.

بیا یې پسې غږ کړ.

ودرېږه!

تا ته وایم، ودرېږه!

کس شا ته وکتل او و یې ویل:

ما ته وایې؟

د تور خان ملګري و ویل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ته وایم.

کس ودرېد.

د تور خان ملګری ور نږدې شو.

کس سلام ورکړ.

د تورخان ملګري د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا کس و پوښتل:

څه دې ویل؟

هغه و ویل:

هو!

زه غواړم چې ستا زوی د خپل ملګري سره نوکر کړم.

هم به یې وروځي او هم به ورته تنخوا ورکړي.

کس و ویل:

دا ښه کار دی.

زه به یې د مور سره خبره وکړم او سبا به تا ته احوال درکړم.

د تورخان ملګري و ویل:

زه بیا تا څنګه پیدا کړم؟

ستا خو ځای هم نه دی معلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

کس سوړ اوسېلي (هوسېلی) و باسه او ویې ویل:

هو!

ته رښتیا وایې.

بیا د تورخان ملګري و ویل.

سبا و ختي دې دکان ته راشه، زه به هم راشم، دواړه به زما ملګري سره خبرې وکړو.

هغه ومنه او روان شو.

ماښام کور ته ورسېد او تېره شوې کیسه یې خپلې ښځې ته بیان کړه.

ښځه یې خورا خوشحاله شوه او مېړه ته یې و ویل:

څومره ښه کار!

هم خرما ده، هم ثواب.

ټوله شپه یې سوچونه وهل او په سوچونو، سوچونو کې بیده شوه.

شپه تېره شوه، سبا شو.

کس وختي له خوبه پاڅېد لمړی اودس بیا یې لمونځ په جمعې سره ادا کړ.

تریخ چای یې د سړی ډوډۍ سره وخوړه.

بیا خپل لاس ګاډي ته نږدې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاړه ژېړه شوه
..........

پر ټاير(ارابه) يې لاس کش کړ، تر څو اوا (هوا) يې کمه (لږه) کړې نه وي او يا هم پنچر نه وي.

بيا يې خپل څادر واخيست او د لاس ګاډي دوړې (ګردونه) يې لرې (پاک) کړل.

بيا يې ګاډي له لاستو ونيوه او بسم الله يې و ويل.

لمړی د انګړ نه د باندې با کوڅې ته و وت.

اخوا دېخوا يې کتل او له ځانه سره يې ويل.

خدای مهربانه دی، ګوندې که زما کار وشي.

ورو، ورو روان و.

څه ځنډ وروسته لوی سړک ته ورسېد.

د تورخان هټۍ خوا ته روان شو.

د تورخان ملګری، الته د هټۍ مخې ته ولاړ و.

تور خان لا تر اوسه هټۍ ته، نه و رسېدلې.

کس هټۍ ته نږدې شو او د تورخان ملګری ته يې سلام ورکړ.

تورخان ملګري د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې د کس نه وپوښتل:

څنګه، خبره دې ياده کړه؟

په دې وخت کې تورخان هم رابښکاره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په خوشحالۍ سره، و ویل:

هو، صیب!

ښځه مې هم رازي (موافقه) ده.

د کس خوله د خوشحالۍ، نه ټولېده.

تور خان هم ورسېد.

د تورخان ملګري د تور خان سره روغبړ وکړ.

کس هم هغه ته سلام واچوه.

تور خان د هغه سلام ته وعلیکم و وایه.

بیا تورخان هټۍ ته نږدې شو.

جب (جیب) ته یې لاس د ننه او کلۍ یې د جبه و وېستې ، بیا یې یوه کلۍ را سمه او کلف (قفل) ته یې د ننه کړه، بیا نور کلفونه یې هم خلاص کړل.

وروسته یې د هټي دروازې خلاصي کړې.

کټ یې د هټۍ نه، را و وېست.

بیا یې توشکه پرې واچوه.

بالښت یې هم پر توشکې کښېښود.

خپل ملګري ته یې و ویل:

کښېنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

کس او د تورخان ملګرى پر کټ کښېناستل.

تورخان و ويل:

زما کارونه ډېر شوي دي.

غواړم يوماشوم، نوکر ونيسم، هم به يې تر روزنې لاندې ونيسم او هم به ورته تنخوا ورکړم.

هم ورته کالي کوم او هم درې وخته ډوډۍ ورکوم، څه چې مونږ خواړه، هغه ته به يې هم ورکوم.

زمونږ سره به په يوه دسترخوان او يو ځاى ناست وي.

دوايى يې هم پر ما.

کس و ويل:

سمه ده صيب!

کور مو ودان.

خداى دې تاسو سره، ښه وکړي.

زه ډېر بې وزله او غريب سړى يم.

بيا تورخان و پوښتل:

څه وخت هغه دلته راولې؟

کس و ويل:

صيب!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

او دستي کور ته ځم او هغه لاس نیولی تاسو ته تسلیموم.

تور خان و ویل:

سمه ده!

کس د خپل زوی پسې لاړ او تور خان هم پر راکړې ورکړې بوخت شو.

ملګري یې رخصت واخیست او په خپله مخه (موخه) لاړ.

دوې ګړی وروسته کس راغی.

زوی یې چورپه شپږ کلن و.

کالي (جامې) یې خیرنې، پیوندي، لاسونه او پښې یې چاودېدلې وې.

پر پښو یې شلېدلي (شکېدلي) پلاستیکي بوټان و.

داسې ښکارېدل چې هغه هم ورته ،چا خیرات ورکړي وي.

رنګ یې زیړ تا به ویل چې هېڅ یې نه دي خوړلي او د ځو ورځو نهار دی.

قد یې جګ او غټې سترګې یې درلودې.

په لاس کې یې ساده غولکه او په جېبونو کې یې ګاټي (کلوله شوي ختې او وچ شوي) وو.

د جبو خولې یې هم شلېدلې و.

بیا کس خپل زوی تورخان ته ور وپېژاند (معرفي کړ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

..........

صیب!

دغه زما زوی دی.

نوم یې وهاب دی.

تاسو یې چې څه رقم غواړئ، هغه وروځئ.

بیا تور خان و ویل:

د میاشتې څو روپۍ غواړې؟

کس و ویل:

صیب!

هرڅومره چې تاسو راکوئ.

بیا تورخان و ویل:

زه به د میاشتې ۱۰۰۰ افغانی تا ته درکړم.

د ده ټوله خرڅه (خرچه) زه په غاړه اخلم.

دا به د خپلو اولادونو غوندې په سوداګرۍ هم بلد کړم.

کس ومنه او ډېر خوشحاله شو.

ژر یې د تورخان لاسونه و نیول او مچ یې کړل.

تور خان هم د هغه پر سر لاس کش کړ.

بیا یې زوی ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

..........

ته به پس له دې، دې کاکا (اکا) سره اوسېږې.

څه چې وايي، هغه به کړې.

زوی يې و ويل:

سمه ده!

بيا کس د زوی نه خدای پاماني واخيسته او په خپل کار پسې روان شو.

تورخان الک ته نږدې شو او غولکه يې ترې واخيسته او هټۍ کې يې کښېښوده.

بيا يې الک ته و ويل:

پر کټ کښېنه او هټۍ ته پام کوه.

هغه پر کټ کښېناست او هټۍ ته به يې کتل.

ورځ تېره او غرمه شوه.

تور خان ځان او الک ته، د هوټله ډوډۍ وغوښته.

بيا دواړو په جلا غابونو کې ډوډۍ وخوړه.

لږ وروسته يې چای هم و څښل.

ماسپښين شو.

تورخان الک ته و ويل:

ته هټۍ ته ګوره، زه لمانځه ته ځم، که چاه پوښتنه وکړه چې تور خان چېرې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

ورته و وایه چې لمانځه ته تللی، اوس به راشي.

پام کوه چې له هګۍ څوک څه شی (څیز) وانه خلي.

الک و ویل:

سمه ده!

تورخان لمانځه ته لاړ.

الک پر کټ غلی ناست و.

تورخان لمونځ ادا او بېر ته ستون شو.

تر ناوخته په هګۍ کې و.

اوا (هوا) تیاره شوه.

تور خان الک ته و ویل:

کټ پرېږده.

هغه د کټ نه پاڅید.

تورخان کټ ونیوه او هګۍ ته یې د ننه کړ.

بیا یې هګۍ وتړه.

الک ته و ویل:

راځه چې اوس کور ته ځوو.

الک و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پانه ژېړه شوه
..........

سمه ده!

تورخان مخکې او الک ورپسې شو.

ځنډ وروسته هغوی کور ته ورسېدل.

د کور دروازه خلاصه وه.

تور خان کور ته د ننه او الک هم ورپسې د ننه شو.

تور خان خپل بوټان و وېستل او ناست خونې ته د ننه شو.

بیا یې الک ته و ویل:

بوټان دې وباسه او خونې ته د ننه شه.

الک خپل بوټان وباسل او خونې ته د ننه شو.

د تور خان زوی او لور هم خونې ته د ننه شوو.

هغوی د خپل پلار غېږې ته ورغلل.

پلار یې هغوی مچو کړل.

الک دروازې ته نږدې ناست و.

هرې خوا به یې کتل.

بیا تور خان الک د خپلو ماشومانو سره وپېژند (معرفي کړ).

څو شېبې وروسته ښځه یې هم کوټې ته د ننه شوه.

هغې د الک په اړه و پوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

..........

تور خان الک خپلې ښځې ته وروپېژاند.

بیا هغه لاړه او د پخلنځي نه یې، د شپې دوډۍ راوړه.

دسترخوان اوار (هموار) شو.

ډوډۍ او کتغونه پر دستر خوان کښېښودل شوو.

بیا لاسونه ومینځل شوو او پر دوډۍ خوړو پیل شو.

ډوډۍ وخوړل شوه او چای هم وڅښل شو.

زمري او د هغه خور، خپلو لوبو سامانونه راوړل او د الک سره یې پر لوبو پیل کړ.

ورو، ورو شپه پخه شوه.

بیا د تورخان ښځې و ویل:

ماشومان خوب نیولي دي.

زه به ورته ځایونه جوړ کړم.

الک دې د زمري سره په خونۍ (کوټې) کې بیده شي.

تورخان و ویل:

سمه ده!

زمرى او الک ټاکلي کوټې ته لاړل او پر خپلو ځایونو بیده شوو.

شپه تېره بیا سبا شو.

الک لږ، لږ په انګړ بیا د باندې هم بلد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

زمری هم په ښونځي کې د ننه (داخل) شو.

دوې کاله وروسته، پانه هم ښونځي ته، په تګ پیل کړ.

سپین غر هم په خپوړو او لخچک پیل کړ.

څنډ وروسته په پښو شو.

هرې خوا به یې منډې وهې.

کله ناکله به یې د نورو سره لوبې کوې.

تورخان به سهار الک له څانه سره هټۍ ته بوته.

الک هم خوشحاله و.

ورځې تېرېدې او الکان او پانه هم لوېدل.

د تورخان کار او بار خورا پراخ (لوی) شو.

هغه ته خدای، مارکېټونه او ځمکې ورکړې.

هغه ډېر نامتو (مشهوره) شو.

پانه هم لویه او اتم ټولګي ته لاړه.

هغه پیغلتوب ته، نږدې شوه.

پلار یې غوښتل هغه د انجونو په لېسې کې شامله کړي، خو د لېسې ښوونځی د هغوي د کور نه لرې و.

زمري هم منځنی ښوونځی بشپړ کړل.

هغه بیا لېسې ته ورو پېژندل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڼه ژېړه شوه
..........

هغه به لېسې ته، ته او هم به يې د پلار سره مرسته کوه.

الک به د کور سودا او نور کارونه کول.

کله نا کله به مارکېټ ته، ته او د تورخان سره به يې مرسته کوه.

الک هم ځوان شو.

هغه د تورخان د اعتبار وړ وګرځېد.

ورځې شپې او شپې په ورځو بدلېدې.

پاڼه او الک به کله ناکله يو بل ته مخامخ کېدل.

د وخت په تېرېدو سره د پاڼې په زړه کې الک ګرانېده.

الک هم غښتلی ځوان شوی و.

هغه به پاک ګرځېده.

ښکلې جامې، ښه واسکټ، څپلۍ او تور وېښتان د کاکل سره يې سخت زيب کاوه.

يوه ورځ پاڼه د تناره برنډې کې ناسته وه او سوچونه (چورتونه يې) يې وهل.

نږدې د انګورو ځېره وه.

انګور هم پخېدو ته نږدې وه.

مرغۍ او غمبسې به راتلې او د انګورو په ځانګو به کښېناستې.

بيا به د انګورو وښکاړو ته نږدې کېدې او پر خوراک به يې پيل کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

..........

ځيني وخت مرغۍ يوه د بل سره، په جګړې اخته کېدې.

کله نا کله به د غونډوزکو په شان، پر ځمکې غورزېدې، بيا به بېرته الوتې او د انګورو پر خوراک به يې پيل کاوه.

پانې به هم هغوی ته کتې، کله به ورته په غوسه او کله به يې ورته خندلې.

ښکلې ننداره وه.

څو دکيکې لا نه وې تېرې شوې چې الک کورته د ننه شو.

هغه د پانې مخې نه تېر شو او خپلې خونې ته ننوت.

پانې هغه ته وکتل او پر زړه کې يې څه تېر شول.

زړه کې يې يو حس پيدا شو.

الک هم د خونې نه څه واخيستل او بېرته انګړ ته روان شو.

بيا د پانې مخې نه تېر شو.

پانې په زير سره ورته وکتل.

هېڅ يې و نه ويل.

هغه د انګړ نه هم و وت خو پانې ورپسې کتې.

وختونه تېرېدل او د پانې احساس د الک په هکله ډېرېده.

کال تېر شو.

د پانې احساس ورو، ورو ډېر او په مينې بدلېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

..........

الک به چې هرې خوا ته، ته پاڼې به ځاره.

الک ته پاڼه لکه خور ښکارېده او هغې ته به یې نه کتل.

کوم وخت به چې سره مخ کېدل، الک به سر ټیټ اچاوه او د هغې له مخه به تېرېده.

خو پانه به د الک په لیدو خوشحالېده او په زړه کې به یې احساس نور هم زیاتېده.

څه وخت نور هم تېر شو.

پاڼې کوښښ کاوه چې هغه پوې کړي چې ور سره مینه لري، خو وخت نه برابرېده.

هغه به د کړکۍ خوا ته کښېناسته او د الک په انتظار به وه.

کوم وخت به چې هغه انګړ ته د ننه کېده، پانه به په یوې او بلې بهانې له خونې وته او د هغه مخ ته به یې ځان برابراوه، هغه به سر ټیټ اچاوه او دهغې له مخې به تېرېده.

الک نه پوهېد چې څانګه پر هغه مینه شوې ده.

وختونه تېرېدل او د پاڼې مینه ډېرېده.

هغې غوښتل چې خپلې مینې په هکله هغه ته و وایې، خو داسې وخت نه پیدا کېده.

یوه ورځ هغه د تناره پر برنډې ناسته وه او په زړه کې یې ویل:

خدای وکړي چې نن الک وختې راشي چې د زړه حال هغه ته و وایم، خو په دې ورځ الک ناوخته او د پلار سره یې یو ځای راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

هغوی انګړ ته د ننه او پانه یې مخې ته ورغله.

هغې پلار او الک ته سلام و رکړ.

هغو د پانې سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا هغوی ناست خونې ته د ننه شوو.

وخت ناوخته او د ډوډۍ وخت و.

پانې د هغې مور، ډوډۍ تیاره او ناست خونې ته راوړه.

دسترخوان اوار او کتغونه هم پر دسترخوان کښېښودل شوو.

خوراک پیل شو.

پانې به تر سترګو لاندې، الک ته کتل.

الک به له شرمه، سر ټیټ اچولی وه.

میاشت بله هم تېره شوه.

پانې غوښتل چې مناسب وخت پیدا او هغه ته د خپلې مینې حال و وایي.

څو اونۍ نورې هم تېرې شوې.

یوه ورځ د هغې مور ناروغه شوه، مشر زوی یې راغی او هغه یې کلینک ته بوتله.

په کور کې پانه او د هغه کشر ورور پاتې شول.

پانه لاړه او د تناره پر برنډې کښېناسته.

له ځانه سره یې په ټیټه بدلې ویلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
.........

کشر ورور يې هم په انګړ کې لوبې کوي.

ځو دکيکې تېرې شوې.

دروازه وټکېده.

د هغې کشر ورور دروازې ته لاړ.

دروازه يې خلاصه کړه.

دروازې تر شا د هغه ملګری ولاړ و.

بيا هغوی سره روغبړ وکړ.

روغبړ نه وروسته د پانې ورور هغه ته د کور د ننوتو بلنه ورکړه.

هغه مننه وکړه او ويې ويل:

لکه کړکه چرګه هره شېبه په کور يې.

بال راواخله چې د نورو الکانو سره، کريکټ وکړو.

هغه و منه او خونې ته د ننه شو، بال يې راواخيست او بېرته ووت، بيا د انګړ نه هم د باندې شو.

هغه خپل ملګري او نورو الکانو سره په کريکټ بوخت شو.

پانه په کور کې يوازې پاتې شوه.

هر دکيکه به يې ګړی (ساعت) ته کتې او په زړه کې به يې ويل:

خدای وکړي چې الک يوازی کور ته راشي چې د خپلې مينې هغه ته و وايم او له هغه وغواړم چې زما سره واده وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڼه ژیړه شوه
..........

مازدیګر(مازیګر) شو.

لمر ورو، ورو په زوړې (لوېدو) شو.

د مرغیو او چونچڼو راتګ پیل شو.

هغوی به په جګو څانګو کښېناستل او په چغه هارو به یې پیل کاوه.

پاڼې به کله ونو او کله به ګړی ته کتل.

څو دکیکې نورې هم تېرې شوې.

د دروازې غږ شو.

الک کور ته دننه شو.

پاڼه هم له ځایه پاڅېده او ودرېده.

الک نږدې او غوښتل یې خپلې خونې ته د ننه شي.

پاڼې پرې غږ کړ:

چېرې ځې؟

هغه و ویل:

خونې ته ځم.

بیا یې ورته و ویل:

ودرېږه زما در سره کار دی.

الک ودرېد او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیریت خو به وي؟

هغې و ویل:

د خیریت نه خبره تېره ده.

هغه و پوښتل:

ته څه وایې؟

زه پوی نه شوم.

پانې و ویل:

زه د ستا سره مینه لرم.

الک و ویل:

چپه شه، اوس به دې مور خبره شي.

پانې و ویل:

مور مې ناروغه او د مشر ورور سره مې کلینیک ته لاړه.

الک وارخطا شو او له ځانه سره یې و ویل:

خدایه خیر کړې!

که تورخان مونږ و وینی، دواړه به و وژني.

هغه ځان ګوښه او د انګړ نه و وت.

بیا یې شکر و باسه او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

خبره په ورانېدو ده، باید کوښښ وکړم تر څو د پاڼې نه ځان لرې وساتم.

هغه به وختي له کوره واته او ناوخته به راته تر څو کومه ستونزه منځ ته را نه شي، خو پاڼې به هغه څاره او په زړه کې به یې نور هم خوړېده.

یوه ورځ پاڼې وخت وموند او الک ته یې و ویل:

څرنګه چې پوهېږې زما پلار ډېر تریخ سړی دی.

که هغه زما پر دوستۍ او مینتوب خبر شي، دواړه به و وژني.

الک و ویل:

هو!

زه پوهېږم.

بیا یې زیاته کړه.

زه څه کولای شم؟

پاڼې و ویل:

ته زما نه خاستګاري وکړه.
الک و ویل:

دا ډېر سخت کار دی.

زه او ته سره ډېر لرې یوو.

ته د یوه بډای سړي لور یې.

خو زه، د یوه فقیر سړي زوی او د ستاسو نوکر یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا امکان نه لري.

هغې و ویل:

که چېرې دا کار و نه کړې زه به ځان و وژنم.

الک و ویل:

نه!

ته داسې مه کوه.

زه به خپل پلار او مور سره خبرې وکړم.

هغې ومنه او الک ته یې و ویل:

څه وخت له هغوی سره خبرې کوې؟

الک و ویل:

دوې ورځې وروسته خپل کور ته ځم.

البته به د خپل پلار او مور سره خبرې وکړم، بیا به تا ته احوال درکړم.

پانې و ویل:

سمه ده!

زه په تمه یم.

دوې ورځې تېرې شوې.

الک د وعدې سره سم، خپل کور ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

الته يې موضوع د خپل پلار او مور سره شريکه کړه.

پلار يې و ويل:

دا ښه کار نه دی، ته الته لوی شوی او د هغې لکه ورور په شان يې.

الک و ويل:

هو پلاره!

خو، هغه وايي، که له ما سره واده ونکړې، زه خپل ځان و وژنم.

پلار يې و ويل:

مونږ چېر ته او هغوي چېر ته؟

هغوی بډايان او خانان دي.

مونږ د هغوی نوکران ( مزدوران) يوو.

نه ځمکه لرو او نه هم کومه هټۍ.

خلک به څه و وايي؟

بيا زوی يې و ويل:

ما د هغې د زړه خبره له تاسوو سره شريکه کړه.

نور تاسو پوی شئ او کار مو.

مور يې په ژړا شوه.

پلار يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

ته ولې ژاړې؟

هغې و ويل:

خان خو ډېر تریخ سړی دی.

که هغه د خپلې لور په مینتوب باندې خبر شي، هم خپله لور و وژني او هم به زمونږ زوی.

هغه و ويل:

خدای مهربانه ذات دی.

ښځې یې و ويل:

بې له شکه چې هغه مهربانه دی.

بیا یې زیاته کړه.

زه ډېره وېرېږم.

مېړه یې و ويل:

ته مه بېرېږه، زه به یوه لاره ومومم.

ښځه یې چپه شوه.

بیا الک و پوښتل:

زه پانې ته څه و وایم؟

پلار یې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

.........

هغې ته و وایه چې زما اوپلار د دوستانو سره مشورې کوې او اونۍ وروسته به تا ته احوال درکړم.

الک ومنه او شپه یې په خپل کور کې تېره کړه.

ټوله شپه یې د تشویش نه صحیح خوب ونه کړ.

هغه ته به د پانې خبرې یادېدې.

سهار شو، هغه پاڅېد اودس یې وکړ.

بیا د لمونځ له پاره جومات (ماجت) ته لاړ.

مور او پلار یې هم لمنځونه وکړل.

مور یې بیا چای دم کړ.

ټولو په ګډه چای وڅښل.

د الک پلار خپلې غریبۍ (کاروبار) پسې لاړ.

الک د مور سره کیسې پیل کړې.

ګړۍ تېره شوه.

هغه هم د خپلې مور نه خدای پاماني واخیسته او بازار ته روان شو.

اونۍ تېره شوه.

پانې بیا د الک نه وپوښتل:

اونۍ تېره شوه، د پلار نه دې کوم احوال لرې؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه

..........

نه!

زه به بیا الته لاړ شم او د پلار نه به مې وپوښتم.

پاڼې و ویل:

سمه ده!

الک بیا خپل کور ته لاړ او د پلار نه یې وپوښتل:

هغه و ویل:

زویه!

هغه پریږده!

ما درته یوه انجلۍ لیدلې ده.

هغه د ښې او غریبه کورنۍ ده.

هغه کولای شی زمونږ سره ژوند وکړي، مګر پاڼه د یوه بډایه کورنۍ نه ده، او هېڅکله به زمونږ سره، ژوند ونه کړي.

باید هر څوک خپل ګیلم یا نیمڅي سره پښې و غزوي.

زوی یې و ویل:

سمه ده پلاره!

ته ښه پوهیږې.

بیا یې و ویل:

پاڼې ته به څه و وایم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڼه ژېړه شوه

..........

پلار يې و ويل:

هغې ته بانې (بهانې) کوه، ځان ترې وژغوره.

بيا هغه به ورو، ورو تا هېر کړي.

الک و ويل:

سمه ده!

څه وخت تېر شو.

د الک پلار د انجلۍ په لټه کې شو.

د خپل ځان په څېر يې يوې غريبې کورنۍ، انجلۍ و مونده او د هغې ريبارۍ (خواستګارۍ) ته لاړل.

د هغوي کورنۍ نه يې د هغوي د لور غوښتنه وکړه.

هغوي هم د الک د پلار کورنۍ سره هوکړه (موافقه) وکړه.

په لمړۍ ورځ يې دسمال واخيست، بيا يې کوژده وکړه.

کال وروسته يې واده هم وکړ.

دا ټول کارونه يې د پاڼې نه پټ تر سره کړل.

الک به کله د خان او کله به کور ته، ته.

يوه ورځ پاڼې الک ته و ويل:

څه دې وکړل؟

هېڅ د تا احوال مالوم (معلوم) نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه به بانې (بهانې) کوي.

بله ورځ د پانې حوصله پرسېړه شوه او الک ته یې و ویل:

ته دروغ وایې.

زه غواړم له تا سره، تاسو کور ته لاړه او د ستا مور او پلار سره خبره وکړم.

بیا نه غواړم خپل کور ته ستنه شم.

که کور ته ستنه شم، پلار به مې هم ما و وژني او هم تا.

هغه وه ابرېد (وډارشو) او له ځانه سره یې و ویل:

دا خو سخت کار دی، که هغه زمونږ کور ته راشي، پوی به شي چې ما ته پلار مې، واده کړی دی.

بیا یې له ځانه سره سوچ وکړ او هغې ته یې و ویل:

سمه ده !

زه اوس کور ته ځم او سبا به دواړه په پټه زمونږ کور ته لاړ شوو.

هغې ومنه.

الک په چورت (سوچ) کې له کوره و وت.

په لاره کې یې یو ملګری ولید.

د هغه سره یې روغبړ وکړ.

ملګري یې پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
...........

څه سوچ کې روان وې؟

هغه خپله کیسه په لنډه توګه، ور ته بیان کړه.

ملګري یې و ویل:

سوچ مه کوه.

زه درسره یم.

بیا الک پوښتنه وکړه.

ته کومه مرسته کولای شې؟

ملګري یې ځواب ورکړ.

هو!

زه او زما بل ملګری، په کابل ښار کې اوسیږو.

الته خونه (کوټه) لرو، په یوه اړخ کې یې حمام، تشناب او په بل اړخ کې پخلنځی دی.

الک و منه او هغه ته یې و ویل:

کله کولای شم الته لاړ شوو؟

ملګري یې و ویل:

هرکله ته غواړې په خدمت کې یم.

بیا یې قلم له جبه و ویست او په کوشني کاغذ یې، هغه ته پته (ادرس) ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڼه ژېړه شوه
..........

الک کاغذ واخیست او د واسکټه په پاس جب کې یې کښېښود.

بیا بېر ته تورخان کور ته روان شو.

کور ته د ننه شو.

پاڼه تر ونې لاندې ولاړه او سوچ کې ډوبه وه.

الک غلی ور نږدې شو او هغې ته یې و ویل:

سهار وختي پاڅېږه.

کالي دې وتړه.

بیا د تناره سپرې لاندې غلې کښېنه!

زه به لمړی د کوره و وځم.

بیا ته راپسې راشه.

هغې و ویل:

سمه ده!

الک خپلې کوټې ته ننوت.

پاڼه هم د کور په کارونو اخته شوه.

شپه شوه.

ډوډۍ نه وروسته ټول بیده شوو.

پاڼه چورتي (چرتی، سوچ، تشویش) وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژړېره شوه
..........

شپه تېره او سبا شو.

هغوی دواړه د ټاکلي پلان سره سم د کوره و وتل.

لمړی ښار او بیا د کابل اډې خوا ته روان شوو.

لږ څند وروسته اډې ته ورسېدل.

پاڼې و ویل:

چېرته ځې؟

الک و ویل:

کابل ته ځم.

پاڼې و پوښتل:

ستاسو کور کابل ته، تللی دی؟

الک و ویل:

نه!

زما پلار او مور نه غواړي چې ما (زه) او تا سره واده وکړو.

په دې اساس غواړم ما او تا سره جلا ژوند وکړو.

هغې و ویل:

سمه ده!

بیا یې و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زما پلار، ما او تا سره پیدا (وومي) څه به وشي؟

الک و ویل:

کابل لوی ښار دی.

په کلونو، کلونو کې به ما او تا سره پیدا نه کړي.

پاڼې و ویل:

سمه ده!

پانه پښېمانه ښکارېده، خو کار له کاره وتلی وه.

بېرته تګ له مرګ سره مخ وه.

الک یوه ګاډي ته نږدې شو.

بیا یې د چلونکي نه پوښتنه وکړه.

کابل ته ځې؟

چلونکي و ویل:

هو!

خو زما لمبر(نمبر) نه دی.

غواړې چې دربست لاړ شې؟

الک و ویل:

دربست په څو ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلونکي و ویل:

په درې زره تر اډې پورې.

الک زیاته کړه او ویې ویل:

کولای شې بیا الته مونږ دې پټې ته ورسوې؟

چلونکي و ویل:

نه!

ښښنه غواړم.

زه یوازې کولای شم تر اډې پورې لاړ شم.

بیا د اډې نه، نور ټکسې ګاډي ډېر دي.

د هغوی دنده ده چې، په ښارکې وګرځي.

الک و ویل:

سمه ده!

چلونکي و ویل:

پنډ ما ته راکړه، زه به یې په ډاله کې کېږدم.

الک پنډ چلونکي ته ورکړ.

هغه هم ډاله خلاصه او پنډ یې په ډاله کې کښېښود.

بیا یې هغوی ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس تاسو هم کښېنئ.

هغوي دواړه په ګاډي کې کښېناستل او دروازه يې بنده کړه.

چلونکی هم خپل ځای دروازه خلاصه او پر خپلې څوکۍ کښېناست.

بیا یې ګاډی چالان او هغوی ته یې و ویل:

یوه دوعا (دعا) د خیر.

هغوی و ویل:

خدایه!

په خير سره مو ورسوې.

چلونکي و ويل:

آمین یا رب العالمین.

ګاډی له اډې نه و وت او کابل خوا ته روان شو.

هغوی یو د بل نه لږ لرې او چپ ناست وه.

چلونکي د الک نه و پوښتل.

کسټ مو خوخېږي؟

الک و ويل:

د چا کسټ لرې؟

هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

کسټونه خو ډېر دي، مګر ښه يې د نغمې کسټ دی.

الک و ويل:

سمه ده!

بيا چلونکي د نغمې کسټ ټيپ ته واچاوه او خاندن (بدله) پيل شوه.

په بام ورو، ورو راځه    سرو شونډو مې رنګ نيولی ده

مازديګر دی لااليه ..............

تر کابله يې د نغمې کسټ ته غوږ نيولی وه.

دوې ساعته وروسته هغوی کابل ښار ته ورسېدل، ګاډی د سرای تر مخې ودرېد او الک ته يې و ويل:

دغه ګاډي، ټول ښاري ټکسيان دي.

ته هغو ته پټه ورکړه، هرومرو دې رسوي.

الک و ويل:

سمه ده!

مننه کوم.

بيا هغوي د ګاډي نه، ښکته شوو.

د چلونکي پيسې يې ورکړې.

هغوي ټکسي ته نږدې او پټه يې هغه ته وښوده.

چلونکي چې وليدل هغوی نا بلده ښکاري، ويې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

تکسي مو په کار دی؟

الک و ویل:

هو!

بیا چلونکي و پوښتل:

چېرته ځئ؟

الک ورته پته ښکاره کړه.

چلونکي و ویل:

پینځه سوه افغانۍ.

الک و ویل:

ولې دومره ډېرې پیسې؟

چلونکي و ویل:

دا سیمه د ښار په یوې څنډې او اډې نه لرې ده.

همدا راز په دې وخت کې ګڼه ګونه وي.

دولتي مامورینو د رخصتۍ وخت دی.

لارې خورا بندې وي.

الک و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي په ټکسي کې، کښېناستل.

چلونکي حرکت وکړ.

څنډ وروسته د مطلب سيمې ته ورسېدل.

چلونکي، ټکسې ودراوه او هغوی ته يې و ويل:

دغه ده ورسېدو.

تاسو کولای شئ له ګاډي کوز شئ.

الک و ويل:

سمه ده!

هغه د چلونکي پيسې ورکړې او له ګاډي کوز شوو.

خپل پنډ يې د ډالې واخيست اوپانې ته يې و ويل:

ته دلته د ونې شا ته ودريګه!

زه به د پټې پوښتنه وکړم.

هغې و ويل:

سمه ده!

بيا هغه د ونې شا ته ودرېده، الک يوه کس نه پوښتنه وکړه.

کس و ويل:

چی میگی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه فهمیدم.

الک بیا خپله خبره تکراره کړه.

هغه و ویل:

پشتو نمی دانم.

الک حیران پاتې شو.

هغه په دري ژبې نه پوهېده.

څو دکیکې حیران ودرېد.

بل لاروی تېرېدو په حال کې وه.

الک ورته نږدې او سلام یې ورکړ.

هغه د الک سلام ته، ځواب ورکړ.

بیا الک هغه ته د پتې کاغذ وړاندې کړ.

هغه و ویل:

همین تاور، منزل چهارم دست چپ است.

الک د هغه نه مننه وکړه او پاڼې ته یې و ویل:

دا ده!

پیدا مو کړ.

بیا الک مخکې او پاڼه ورپسې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه

..........

څلورم پوړ(منزل) ته، پورته شول او کینې خوا ته روان شول.

د اپارتمان دروازه مخامخ وه.

الک دروازې ته نږدې او هغه یې وټکوه.

لږ ځنډ وروسته یو کس دروازې ته راغی او دروازه یې خلاصه کړه.

الک ورته سلام ورکړ او کاغذ یې هغه ته ورکړ.

کس ور ته و ویل:

وعلیکم سلام په خیر راغلاست.

مهرباني وکړئ، د ننه شئ.

هغوی دالان ته د ننه بیا ناست خونې ته بلنه ورکړ شوه.

دواړه ناست خونې ته د ننه او پر کوچونو(کوچ ها) کښېناستل.

کس پخلنځي ته لاړ او ژر یې چای دم او په ترموز کې یې واچاوه.

بیا یې په پتنوس کې پیالې او چاکلېټ کښېښودل.

په یوه لاس یې پتنوس او په بل لاس یې د چای ترموز نیولی، ناست خونې ته د ننه کړ.

شیان یې پر مېز کښېښودل.

بیا یې پیالې اوکش اوچای یې په پیالو کې واچاوه.

هغوی د چای په څښلولو پیل کړ.

کس الماری خوا لاړ او تېلوېزیون یې روښانه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

بیا یې ریموټ کنټرول الک ته ورکړ او ویې ویل:

هر چاینل چې موخوښېږی، کولای شئ وګورئ، زه د باندې ځم چې د شپې له پاره څه سودا راوړم.

کس سودا پسې لاړ.

خو الته په وطن کې د پانې مور لږ ناوخته له خوبه پاڅېده.

تورخان هم وختي خپل کار پسې تللی وه.

هغه د پانې کوټې ته لاړه.

پانې خپل ځای کې بالښتونه ایښې وو او د پاسه یې پرې کمپله اچولې وه.

هیچا ګمان نه کاوه چې، هغه به خالي وي.

بیا یې د ځانه سره و ویل:

پرېږده چې ویده وي.

هسې پرون شپه تر ناوخته ویښه وه.

بیا هغه د کوټې و وته.

پخلنځي ته لاړه، الته یې چای وابشاوه، بیا یې په چاینکه کې دم کړ.

ډوډۍ یې د ټکرۍ نه راواخیسته او په دسترخوان کې یې تاوه کړه، بیا ناست خونې خوا ته روانه شوه.

مشر اوکشر زوی یې هم ناستخ ونې ته د ننه شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

.........

موريې  دسترخوان اوار (هموار) کړ.

درېواړو پر چای څښلو پیل کړ.

په دې وخت کې زمري و پوښتل:

پانه چېرې ده؟

مور يې و ويل:

هغه بیده او د شپې تر ناوخته ناسته وه، کېدای شي بې خوبه اوسي.

زمري څه و نه ویل.

ټول د چای په څښلو بوخت وو، چای خلاص او مور يې پاڅېده او د پیالو په ټولولو(غونډولو) يې پيل کړ.

زمری هم پاڅېد او مارکېټ ته لاړ.

کوشنی ورور يې هم توپ واخیست او د باندې لاړ.

مور يې د غرمې ډوډۍ تیارولو له پاره، پخلنځي ته لاړه او د کتغ پر پخولو يې پيل کړ.

ګړی اته، نهه بیا لس بجې شوې.

زړه يې طاقت و نه کړ، بیا د پانې خونې ته د ننه شوه.

ويې غوښتل چې هغه ویښه کړي.

هغه د پانې پالنګ (بیسترې) ته نږدې شوه، بالښت يې وخوزاوه.

خو دهغې اخ او توخ نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

بیا يې لږ په زوره وخوزاوه، په درېیم ځل يې کمپله ترې لرې چې ګوري، جای شته او جولا نه شته.

هکه پکه پاتې شوه.

څو دکیکې الته ودرېده اوله ځانه سره يې و ویل:

کېدای شي هغې زما سره ټوکه کړې وي.

بیا زړه يې طاقت و نه کړ، ټولې کوټې يې ولټوې، خو د هغې درک نه لږېده.

بیا په وارخطایۍ دروازې ته لاړه او دروازه يې خلاصه کړه.

په کوڅې کې ماشومانو لوبه کوه.

بیا يې یو ماشوم ته و ویل:

اله سپین غر ته نارې کړه.

هغه و پوښتل:

خیریت خو به وي؟

هغه چې له وېرې لړزېده، سر يې لوڅ وه و يې ویل:

هو!

خیریت دی، خو ژر شه!

ماشوم هم په منډه د سپین غر پسې لاړ.

څو دکیکې وروسته سپین غر هم په منډو کور ته ځان ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

مور یې د دروازې تر شا ولاړه وه.

مور یې چې سپین غر ولید، ورته یې و ویل:

چابک شه!

خپل پلار او زمری ته و وایه چې ژر کور ته راشي.

وهاب الته پرېږدئ چې بوخت وي.

سپین غر وپوښتل:

خیریت ده لړزیږې؟

هغې و ویل:

خبرې مه کوه!

ژر شه ریکشا ونیسه.

سپین غر هم وارخطا شو، ریکشا یې ونیوه او د خپل د پلار دفتر ته روان شو.

څنډ وروسته الته ورسېد.

هغه خپل پلار ته ځان ورساوه.

الته کسان ډېر او مجلس روان و.

سپین غر د خپل پلار په غوږ کې و ویل:

د مور حالت مې ښه نه دی.

هغه وایي چې ژر ځان کور ته ورسوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

پلار یې هم د دې خبرې په اورېدو سره، بې واره (وارخطا) شو.

ناست خلکو ته یې و ویل:

زه عاجله کور ته ځم، بیا به سبا په دې موضوع خبرې وکړو.

کسانو و پوښتل:

خیریت خو به وي؟

تور خان و ویل:

نه پوهیږم.

سپین غر هم وارخطا دی.

کسانو و ویل:

مونږ څه مرسته کولای شو؟

تورخان و ویل:

مننه کوم.

بیا کسانو و ویل:

که کومه ستونزه وه، مونږ هم خبر کړه.

په دې وخت کې زمری هم ورسېد.

پلار یې ورته و ویل:

ژر سه ګاډی چالانه کړه چې کور ته ځوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

هغه و پوښتل:

خیریت خو به وي؟

تور خان و ویل:

خیریت پسې مه ګرځه، ژر کوه!

هغه هم د ګاډي کیلۍ له جبه را و وېسته او په ګاډي کې کښېناست.

تور خان او سپین غر هم د څټ (شا) په سېټ کې کښېناستل.

زمری ګاډی چالان او په پوخ سپیډ (سرعت) کې څانونه کور ته ورسول.

د تور خان ښځه په دروازې کې ولاړه وه.

له وېرې لړزېده.

زمري ګاډی د دروازې مخې ته ودراوه.

تورخان په شتاب سره له ګاډي کوز او دروازه یې خلاصه کړه.

په چغه یې خپلې ښځې ته و ویل:

څه خبره؟

ښځې یې و ویل:

بلا، زمونږ پر سره شوه.

پانه په کور کې نه شته.

تور خان و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

دا ته څه وایې؟

هغې و ویل:

هغه په خپل ځای کې نه شته، هرې خوا مې ولټوله.

بیا تور خان په غصه و ویل:

وهاب چېرې دی؟

هغه مو نن لیدلی دی؟

زامنو یې و ویل:

نه!

هغه هم د سهار نه ورک دی.

بیا تور خان و ویل:

دا ټول فسات (فساد، کسور یا قصور) د وهاب په پښه کې دی، کېدای شي هغه ورته فرېب ورکړی وي.

بیا یې خپلې خونې ته منډې کړې، د ننه او الماری ته نږدې شو.

پله یې خلاصه، خپله تومانچه یې واخیسته، بیا یې په بغل جېب کې د ننه کړه او د خونې نه و وت.

زمري ته یې و ویل:

ژر شه!

ګاډی چالان چې د وهاب پلار کور ته لاړ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به يې ماغزه ور باد کړم.

زمری له کوره و وت.

ګاډي ته کښېناست او هغه يې چالان کړ.

بيا تور خان ګاډي ته د ننه شو.

سپين غر و ويل:

زه هم د تاسو سره ځم.

پلار يې و ويل:

نه!

ته مه ځه، کورکې پاتې شه.

مور دې يوازې ده.

هغه و ويل:

سمه ده!

بيا هغوي په چټکۍ سره، ځانونه د وهاب پلار کورته ورسول.

ګاډی يې د هغوی دروازې تر شا ودراوه.

تورخان په چالاکۍ سره د ګاډي نه کوز او دروازې ته يې ځان ورساوه.

دروازه خلاصه وه.

هغه هم بې له ټکولو انګړ ته، د ننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
. . . . . . . . . .

چیغه یې کړه:

وهاب چېرې دی؟

د وهاب مور چې په انګړ کې یې کالي مینځل، راپورته شوه او تورخان ته یې سلام ورکړ.

تورخان و ویل:

وهاب چېرې دی؟

د وهاب مور و ویل:

هغه تاسو کور کې دی.

تورخان بیا و ویل:

وایمه وهاب چېرې دی؟

د وهاب مور و ویل:

خیریت خو به وي خان صیب!

هغه دلته نه دی راغلی.

تورخان د کوټو په لټولو پیل کړ، خو وهاب یې و نه موند.

بیا د انګړ نه و وت او زمري ته یې و ویل:

دا بد بخت کېدای شي هغه خوست یا کابل ته تښتولې وي.

زوی یې و ویل:

اوس به څه کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

..........

تور خان و ویل:

لمړی د خوست اډې (هډې) بیا به د کابل اډې ته لاړ شوو.

هغوی بیا په ګاډي کې، کښېناستل او د خوست اډې خوا ته روان شول.

څنډ وروسته اډې ته ورسېدل.

تور خان له ګاډي کوز شو.

ډېرو خلکو تورخان پېژانده او د هغه په لیدو سره یو بل پسې هغه ته نږدې او د هغه سره یې روغبړ وکړ.

تورخان په غصه و او ځان یې د اډې منشي ته ورساوه.

څه کسان هم د هغه پسې روان وو.

هغه د اډې منشي ته و ویل:

نن سهار یو الک او یوه انجلۍ خو به دې په سترګو نه وي شوي کوم چې الک سپینې جامې او د انجلۍ ژېړې وې.

هغه و ویل:

لږ صبر وکړه!

زه به د چلونکو نه، پوښتنه وکړم.

تورخان و ویل:

سمه ده!

بیا منشي له څو چلونکو نه پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی و ویل:

نه!

نن خو داسې څوک اډې ته نه دي راغلي.

تورخان و ویل:

سمه ده!

بیایې زمري ته و ویل:

ژر شه چې د کابل اډې ته لاړ شوو.

هغه د ګاډي مخ راواړاوه او د کابل اډي خوا ته روان شوو.

څنډ وروسته الته ورسېدل.

اډې ته د ننه شوو.

الته یې د منشی او نورو چلونکو نه، پوښتنې وکړې.

یو چلونکی تور خان ته نږدې شو او و یې ویل:

خیریت خو به وي صیب!

تور خان و ویل:

څه پېښه شوې ده.

یو الک اویوه انجلۍ خو به مو لیدلې نه وي؟

چلونکي و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

ما سهار وختې دلته یو الک او انجلۍ ولیدل، هغوی ډېر وارخطا مالومېدل.

بیا تور خان و پوښتل:

هغوي څه شوو؟

چلونکي و ویل:

هغوی یو ګاډی دربستې او کابل ته لاړل.

تورخان و پوښتل:

د هغوي څرنګه جامې وې؟

چلونکي و ویل:

د الک سپینې او د انجلۍ فکر کوم ژیړ بخونې جامې وې.

بیا یې د چلونکي نه، وپوښتل.

ته د هغه ګاډي چلونکی پېژنې؟

چلونکي و ویل:

هو صیب!

کله نا کله مونږ په یوه هوټل کې سره ډوډۍ خورو.

بیا تور خان و پوښتل:

هغه به کله بېرته راشي؟

چلونکي و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ماسپښين به راشي.

بيا تورخان و ويل:

د هغه د ګاډي پلېټ نمبر در سره شته؟

هغه و ويل:

هو!

د هغه نمبر مې په ياد دی.

بيا تورخان و ويل:

و وايه!

هغه و ويل:

ګ ....... ټ.

تور خان و ويل:

مننه کوم.

زه به وختي دلته راشم.

چلونکي و ويل:

سمه ده!

بيا تورخان زمري ته مخ واړاوه او ويې ويل:

اوس کار له کار تېر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژړېږه شوه
..........

په کراره به هغه ته سزا ورکړم.

زمري و ویل:

اوس چېرته ځوو؟

هغه و ویل:

لمړی کور، بیا دفتر ته ځوو، خو د پیښې په هکله به چا ته څه نه وایې.

زمري و ویل:

سمه ده پلاره!

بیا هغوی په ګاډي کې سپاره او کور ته روان شوو.

کورته د ننه شوو.

تورخان ښځه او سپین غر هک پک په انګړ کې پر کټ ناست وو.

د تورخان ښځه پاڅېده او ویې پوښتل:

کوومه نښه مو پیدا کړه.

تورخان و ویل:

هو!

لعنت دې پر ما شي چې پر ناکسو مې اعتماد وکړ.

بیا یې زیاته کړه.

پانه د هغه بد بخت سره کابل ته، تللی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

زه به يې خوښ شم.

ته به چا ته څه نه وايې.

که چا وپوښتل، ورته و وايه چې، هغه خپلې ترور کور ته تللې ده.

ښځې يې و ويل:

سمه ده!

بيا تورخان  د زمري سره خپل دفتر ته لاړل.

ماشام بېرته راغلل.

ټوله شپه يې پلانونه سنجول.

د شپې خوب يې و نکړ.

ساړه اوسېلي يې باسل.

سبا شو.

هغه د نورو ورځو په شان، نه وه.

ډېر خواشينى وه.

ناوخته دفتر ته لاړ.

هره دکيکه به يې ګړۍ (ساعت) ته کتل، وخت نه تېرېده.

غرمه شوه.

بيا يې زمري ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژبړه شوه
..........

ځه چې کابل اډې ته لاړ شوو.

ګوندې هغه چلونکی بېرته راغلی وي.

زمري و ويل:

سمه ده!

بيا دواړه کابل اډې ته لاړل.

التبه يې ګاډی يوې خوا ته ودراوه او له ګاډي نه کوز شوو.

منشی خوا ته لاړل.

بيا يې د هغه چلونکی په هکله و پوښتل.

منشی و ويل:

هغه کس، اوس دستی کابل ته لاړ.

بيا يې د هغه بل ګاډي لمبر(نمبر) ورښکاره او ويل:

دا ګاډی راغلی دی؟

هغه و ويل:

تر اوسه، نه!

کېدی شي راورسېږي.

هغوی دواړه په کيسو، بوخت وو.

په دې وخت کې، يو چلونکی رانږدې شو تر څو د سبا له پاره لمبر (نمبر) ثبت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........

هغه منشی ته نږدې شو او سلام يې ورکړ.

منشی هم د هغه سلام ته وعليکم و ويل.

بيا منشي و ويل:

صيب!

دغه دی، په خپله راغی.

تورخان منشي ته و ويل:

زه غواړم د ده سره څو خبرې وکړم.

چلونکی وارخطا او د منشي يې وپوښتل:

خيريت خو به وي؟

منشي و ويل:

هو !

خيريت دی.

تورخان زمونږ د سيمې خان دی، ته مه وېرېږه.

چلونکي و ويل:

سمه ده!

بيا تورخان ورته و ويل:

لږ به دېخوا شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

هغوي لږ لږ شوو.

چلونکي وپوښتل:

کومه خاصه خبره ده؟

تورخان د هغه نه د الک او انجلۍ په هکله پوښتنې وکړې.

هغه و ویل:

هو!

هغوي زما سره تر کابله لاړل.

تورخان و پوښتل:

په کوم ځای کې هغوي ښکته شول.

چلونکي و ویل:

هغوي زما سره تر اډې پورې لاړل، بیا نه پوهیږم کومې خوا لاړل.

کومه ستونزه وه صیب!

تور خان و ویل:

نه!

هسې، یوه خبره وه.

بیا یې د هغه نه خدا پاماني واخیسته او خپل ګاډي خوا روان شو.

سوړ اوسېلی یې و باسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰

په ګاډي کې کښېناست او زمري ته يې و ويل.

ځه چې دفتر ته لاړ شوو.

زمري و ويل:

سمه ده!

بيا يې زياته کړه، کوم ځرک ولګېد؟

پلار يې و ويل:

تر اوسه نه.

دومره پوی شوم چې کابل ته، تللي دي.

هغه خورا چرتي شو.

پلان يې و نيو چې هرو مرو به هغوی پيدا کوي او په سزا به يې رسوي.

څه وخت تېر شو.

هغه خپلې ځمکې او جايدادونه په ارزانه بيه وپلورل.

ګاوندې هېواد ته لاړ.

الته يې ځمکې واخيستې او لويه کلا يې بينا (بنا، پيل) کړه.

څه ساتونکي يې هم ونيول.

بيا بېرته وطن ته ستون او د الک په لټه کې شو.

وختونه تېرېدل او د الک کومه پته يې و نه مونده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

خو الک کابل کې خپل ملګري اتاق کې اوسېده.

څه موده تېره او د هغه پیسې خلاصې شوې.

د ملګرو نه یې هم څه پیسې پور کړې، بیا هغه هم خلاصې شوې.

هِغه به په پټه ګرځېده، څه یې په لاس نه راتله.

بله ورځ ملګرو یې د هغه نه خپل پور وغوښته.

الک ورته زارۍ وکړې او ویې ویل:

غواړم کار وکړم او د ستاسو پور ادا کړم.

ملګرو یې و نه منه او هغه ته یې و ویل:

ستا پور پانه ادا کوی شي.

الک و پوښتل:

هغه یې څنګه ادا کوی شي؟

ملګرو یې وخندل او ویې ویل:

هغه به څه موده زمونږ سره پاتې او ستا پور به خلاص شي.

الک په غوصه شو او ویې ویل:

دا څرنګه ملګرتیا ده؟

یوه ملګري یې و ویل:

دا خوستا ښځه نه ده او نه دې ورسره شرعي نکاح کړې، که تورخان خبر شي، هم تا و وژني او هم به خپله لور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

دوې ورځې دنیا ده.

راځئ چې چړچې او مېلې وکړو.

هغه په سوچ کې لاړ.

بیا بل ملګري یې و ویل:

آسانه کار دی.

زه  به شراب راوړم او ټول به یې وڅښو او د ژوند نه به لذت واخلو.

پاڼي و ویل:

زه داکار نه کړم.

ملګرو یې الک ګوښه کړ او ورته یې و ویل:

ستونزه نه شته.

مونږ به ورته په پیپسي کولا کې شراب ګډ او پر هغې به یې  وڅښو
بیا به خپلې مېلې او چړچې کوو.

الک د خپلو ملګرو خبره ومنه.

یو ملګری یې لاړ او شراب یې راوړل، بیا یې خپل پلان پر پاڼې تطبیق
کړ.

هغه او الک یې پرې اخته کړل.

بیا به د پاڼي سره د شپې پاتې کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

څه وخت تېر شو او الک احساس وکړ چې تورخان د هغه پیدا کولو په لټه کې دی.

ډار یې په زړه کې نور هم زیات شو.

یوه ورځ یې خپل ملګرو ته و ویل:

زه سوچ کوم چې تورخان مونږ پیدا کوي.

ملګرو یې و ویل:

ستونزه نه شته.

زما یو ملګری د ګردېز په ښار کې هوټل لري.

البته به لاړ، مزې او چړچې به وکړو.

هسې تورخان ورک دی.

الک د ملګرو خبره ومنه او پر سبا باندې ګردیز ښار ولاړل.

هغه هوټل کې د ترکانو (ترکیانو، ترکیې، ترک) ودانیزو شرکتونو پرسونل، تګ او راتګ کاوه.

الک د ملګرو په مرسته په پانې سودا (تجارت) پیل (شروع) کړ.

هره شپه به یې هغوي باندې په ۱۰۰ډالرو پلوره.

څه وخت تېر شو.

تورخان هغوی و موندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

بیا یې د هغوي سره په پټه ولیدل او تر هغوي یې و غوښتل چې ور سره سپینه وکړي.

هغوي د ترکانو په ورانه دوستئ مغروروه شوي او د تورخان ناسته یې رد (ونمنه) او هغه ته یې و ویل:

لاس دې خلاص!

هر څه چې کولای شئ، کوه.

مونږ د ستا پروا نه لرو.

تورخان لکه مار تاو او راتاو شو.

څه یې په لاس را نه غلل.

بیا په غوصي (غصې) له ځایه پاڅېد او کور ته روان شو.

هغه ډېر به غوصه وه.

کور ته دننه شو.

اخوا دېخوا یې وکتل، یو تبرګی چې د کټ خوا ته پروت و، راواخیست او کوټې ته د ننه شو.

په تبرګي یې لمړی پر خپلې ښځې وار وکړ او هغه یې پر اوږې زخمي کړه.

په کور کې غوغا شوه.

زمري منډه کړه او کوټې ته د ننه شو.

پلار یې هغه هم اوږې کې، په تبرګي و واهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

ګاونډیانو هم منډې او د تورخان کور ته دننه شوو.

تبرګی یې ترې واخیست.

ټپیان (زخمیان) یې روغتون ته ورسول.

ښځه یې شپږ میاشتې او زوی یې درې میاشتې په روغتون کې بستر وو.

د ښځې زخمونه یې خورا ژور او د ښه کېدو، نه وه.

هغه بیا الته په روغتون کې په حق ورسېده ( وفات) شوه.

زمري په روغتون کې درې میاشتې تېرې کړې.

زمری تر درملنې ښه شو.

بیا یې پلار ته و ویل:

زه به خپل کسور (قصور) د وهاب او د هغو ملګرو نه واخلم.

ما ته هم زمری وایی.

بیا ټولو له هېواده کډه او ګاونډ هېواد ته لاړل.

پر پلار به یې عصبي حملې راتلې.

زوی یې د هغه دوایي کوه، خو روغ نه شو.

څه و خت نور هم تیر او هغه وفات شو.

زمری بېرته وطن ته ستون شو او په پټه به وهاب او هغه ملګرو پسې ګرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه

..........

وهاب او ملګرو یې چې پوی شووچې اوس نېول ګېږي، د شپې یې بیا یو شوم پلان جوړ کړ.

هغوی پرېکړه وکړه چې سهار وختي به د پانې لاسونه او پښې تړي او دوي به دا ځای پرېږدي، بیا به ګاونډ هېواد ته، ځي.

ټولو ومنه.

د شپې ویده او سهار وختې یې د پانې لاسونه او پښې وتړل، د هوټل خونې دروازه یې خلاصه پرېښوده او د هوټل څخه ګاونډ هېواد ته وتښتېدل.

غرمه شوه.

د کسانو پته و نه لږېده.

د هوټل خاوند په تشویش شو.

پاس خونې ته لاړ.

ګوري چې د خونې دروازه خلاصه او د پانې لاسونه او پښې تړلې دې.

هغه ور نږدې او د هغې لاسونه او پښې یې خلاص کړل.

بیا یې و پوښتل:

کسان چېرې دي؟

هغې و ویل:

هغوی وتښتېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پانه ژېړه شوه
..........

د هوټل مالک هک پک پاتې شو.

پانه سم دلاسه (سمدستي) د هوټل نه د باندې و وته.

په یوه ګاډي کې یې ځان واچوه.

چلونکي ته یې و ویل:

ما نږدې پولیس حوزې ته، ورسوه.

چلونکي هغه حوزې ته ورسوه.

هغه د ګاډي نه ښکته او په منډه حوزې ته ننوته.

ټوله کیسه یې جنایي کسانو ته وکړه.

پولیسو د کسانو په لټه کې شوو.

انجلۍ یې د خوندیتوب په موخه یوه نږدې ملک ته و سپارله.

ملک هم هغه په کور کې ساته.

څه وخت تېر شو.

یوه ورځ زمری په ګاونډ هېواد کې د یوې فوټبال لوبې لیدو ته لاړ.

په نا څاپي ډول یې یو مجرم تر سترګو شو.

هغه یې تعقیب او د سټډیوم نه و تو په حال کې ونیو، پر چاړویې و واهه او الته یې ګذار کړ.

خلکو د هرې خوا نه منډې کړې او کس یې په شخصي ګاډي کې واچاوه، بیا یې روغتون ته ولیږداوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

هغه ډېر تېپي شوی او په لاره کې يې ساه ورکړه.

څه څنډ تېر شو اوبل کس يې هم و موند، هغه يې په پکتيا کې پر ډزو و ويشت او الته يې مړ کړ.

بيا سرګردانه د نورو دښمنانو پسې ګرځېده، هغه به د خپل هدف لاس ته راوړو د پاره خورا ډېرې پيسې مصرفوې.

هغه د خپل ځان ساتونکو (باډي ګاردانو) سره ګرځېده کوم چې د ګاونډ هېواده څخه وو.

ورځې شپې او شپې په ورځوو بد لېدې، هغه بيا کوښښ کاوه چې د هوټل مالک و وژني، خو واره يې نه برابرېده.

اونۍ تېرې شوې، بيا هغه پرېکړه وکړه تر څو په يوه پلمې هوټل ته لاړ او د هغه مالک هم و وژني.

د هوټل شاو او خوا کېده او کله ناکله به ډوډۍ هم الته خوړه، مګر ځان به يې ښه تاواوه تر څو د هوټل مالک يې و نه پېژني.

يوه ورځ چې زمرى ډېر په غصه وه هوټل ته لاړ، بيا د هوټل ريس دفتر ته ننوت، ګوري چې د هوټل مالک د ټلوېزيون په ننداره دی.

ښه ورته نږدې او هغه يې هم په توپانچې و ويشت او د هوټل نه په منډې و وت، د باندې ورته خپل کسانو څارنه کوله.

چلونکي يې ګاډی تاو او هغه په چابکۍ سره په ګاډي کې سپور شو.

بيا په بېړې له سيمې و وت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

خلکو پولیسو ته خبر ورکړ، ځنډ وروسته پولیس او امنیتي کسان ورسېدل، مګر کار له کاره تېر وه.

پولیسو اخوا دېخوا وګرځېدل، خو څه یې لاس ته رانه غلل، بیا یې مړی روغتون ته ولېږداوه او وروسته یې د هغه دوستانو او خپلوانو ته وسپاره.

څه وخت تېر شو بیا هغه وهاب هم په پکتیا کې و موند او په ډزو سره یې و واژه.

کال تېر شو، هغه د خپلې خور په لټه کې شو.

چا ورته احوال ورکړ چې هغه د یوې سیمې د ملک کره اوسېږي تر څو د هغې مدیان (دښمنان) ونیول شي، مګر هغه نه پوهېده چې ټول دښمنان یې له منځه تللي دي.

زمری د پټې په لټه کې شو او اونۍ وروسته یې پانه پیدا کړه.

خپلو ساتونکو سره یې مشوره وکړه، هغوی ورته و ویل:

ته بې وسلې الته لاړ شه!

خان ساتونکی تا له سلاح سره نه پرېدي.

ته لاړ او هغه وګوره.

مونږ به دلته ستا څارنه وکړو.

هغه و منه او خان کلا خوا ته روان شو.

د خان کور مخې کې دېره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الته څه کسان پر کټونو ناست وو.

زمري نږدې او ناست کسانو ته یې سلام ورکړ.

هغوی د زمري سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا یې له هغه و پوښتل.

د چاه سره دې کار دی؟

زمري و ویل:

د پانې سره مې کار دی.

د خان یوه ساتونکي و ویل:

ته څوک یې چې د هغې سره دې کار دی.

زمري و ویل:

زه زمری او د هغې ورور یم.

زه دلته په وطن کې نه وم.

اوس راغلی او غواړم هغه و وینم.

په ناستو کسانو کې د خان زوی هم و.

هغه و ویل:

د څو دکیکو اجازه درکوم، خو ژر به بېرته راشې.

دلته به چای او ډوډۍ زمونږ سره وخورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمري و ويل:

سمه ده.

بیا د خان زوی و ویل:

ساتونکیه !

زمری تلاشي کړه.

هغه تلاشي ورکړه او د خان زوی سره، کلا ته د ننه شو.

بیا يې راسآ یوې خونې ته بوته، چېرې چې پانه اوسېده.

د خان زوی د خونې دروازه و وهله.

پانه بیده وه.

بیا يې دروازه بېدرېغه (په زوره) و وهله.

هغه له خوبه ویښه شوه.

ځانګه دروازې ته نږدې او ویې ویل:

خیریت خو به وي.

د خان زوی و ویل:

هو!

زېری مې در باندې.

ورور دې، زمری راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

هغه د خبرې په اورېدو سره هکه پکه شوه.

بیا یې له ځانه سره و ویل:

هغه حتما زما د وژلو د پاره راغلی دی.

په ځان کې یې لړزه راغله.

په سختۍ یې دروازه خلاصه او د خان زوی او خپل ورور ته سلام ورکړ.

هغوی دواړه د هغې سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا د خان زوی زمري ته و ویل:

ته خپله خور و وینه او لنډې خبرې ور سره وکړه.

زه لږ اخوا انتظار کوم.

زمري و ویل:

سمه ده!

زمری پر توشکې کښېناست.

پانه ولاړه او سترګې یې ټیټې اچولې وې.

هغه ډېره پښېمانه ښکارېده، خو څه یې د لاسه نه راتلل.

کار د کار نه تېر شوی وه.

بیا هغه لرې کښېناسته او سترګې یې له شرمه پر ځمکې ټومبلې وې.

زمری په چرت کې ډوب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

هېڅ څه نه و چې پر پاڼې ګذار وکړي.

بیا یو چرت (سوچ) ورغی او موسکی شو.

خپلې خور ته و ویل:

یو پیچکش در سره راوړه.

خور یې وپوښتل:

په هغه څه کوې؟

زمري و ویل:

د ګړۍ (ساعت) بند مې  خراب شوی.

غواړم چې جوړ یې کړم.

هغه د خونې و وته او بلې خونې ته د ننه شوه.

پیچکش یې و موند او  هغې کوټې ته بېرته د ننه شوه.

پېچکش یې زمري ته وړاندې کړ.

هغه پېچکش واخیست او پر  هغې یې ګذارونه پیل کړ.

هغې چغې پیل کړې.

د خان زوی چې خونې ته نږدې ولاړ و، منډه کړه او خونې ته د ننه شو.

ژر یې د زمري نه پیچکش واخیست.

بیا نورو ښځو خونې ته منډې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

زمري په چالاکۍ سره د کلا نه و وت.

هرڅه د ډېرې خلکو هغه ته د غرمې ډوډۍ ست وکړ.

هغه و ويل:

مننه کوم، کوم بل وخت.

بيا د خان زوی د باندې و وت او ساتونکو ته يې و ويل:

هغه کس و نيسئ.

هغه خپله خور ټپی کړه.

هغوی هرې خوا منډې کړې.

زمری ځان د سيمې و باسه او ګاډي کې سپور او و تښتېد.

کسانو پانه په موټر کې واچوه او د ښار روغتون ته يې ورسوه.

ډاکترانو د هغې په درملنې پيل کړ.

د خان زوی پوليسو ته زنګ و واهه.

لږ ځنډ وروسته پوليس هم ورسېدل.

هغوي خپلې څېړنې پيل کړې.

بيا يې په لارو کې چک پاينټو ته امر(دستور) ورکړ تر څو بې پلېټه ګاډې ودروي.

سورلې يې ښه تلاشي او د اسنادو پوښتنه وکړي.

زمری لکه ګولۍ له سيمې ځان پناه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڼه ژیړه شوه
..........

بیا یې خپلو ساتونکو ته و ویل:

دښمنان مې خلاص کړل.

یوازې پاڼه پاتې ده.

بس و نه شو.

که نه هغه مې هم له دنیا نه تېره کړې وه.

نصیب او قسمت.

هغوی ځانونه مزې ( بورډر، سرحد، خط) ته ورسول او اخوا تېر(واوښتل).

بیا خپل کور خوا ته روان شو.

پاڼه تر ځارنې لاندې په روغتون کې وه.

هغه البته تر دوې میاشتې پاتې شوه.

هغه روغه رمټه شوه.

بیا امنیتې کسانو هغه امن کور ته واستوه.

د هغې به یې ځارنه کوه.

زمرې به د هغې د وژلو پلانونه جوړول.

خو د هغې د اوسېدلو ځای ته یې لاسرسی و نه موند.

څه و خت تېر شو.

جمهوریت هم سقوط وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

طالبانو حکومت تر لاسه کړل.

هر څه ګډ وډ شوو.

هغه دوې ورځې وروسته، ځان را ورساوه.

امن خونې ته لاړ.

د امن خونې دروازې خلاصې وې.

نه جاى و نه جولا.

هر څه تري تم شوي وه.

نه امن خونې وې نه پولیس.

هر څه د طالبانو په لاس پرېوتې وه.

هغه خالى لاس، بېرته ستون شو.

زمرى او د هغه ورور سپين غر، تر اوسه ژوندي او په ګاونډ هېواد کې ژوند کوي.

هغوي د پانې پسې ګرځي.

خو، د پانې نه کوم نښې نښانې نه شته.

**پاي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........

**سر چینه:**
سیمه یځه څیړنه (میدانی تحقیقات)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰

## د چاپ شویو کتابونو لیسټ

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي (برای اساتید انستیتوت های تخنيكي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژبړه شوه
..........

(جلد اول)
۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پیل
۴۵. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه کړۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
۵۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۵۴. شپنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مینې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او انجینیرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېړه شوه
..........

٦٠. د يوې مياشتې **ناوې** (پښتو ناول)
٦١. دڅاڅکو هار (د يوه سړی لنډې کيسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غريبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [ديارلس کلنه فلسطينۍ انجلۍ تر نړېدلې ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتې / چوب ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاريګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عينک مسو کان ته ځېرمه)
٨٣. شهری زير خاک (نزديک معدن مس عينک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژېره شوه
..........


٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانۍ
٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
٨٨. خږه بیزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپین کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونۍ لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)
٩٣. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
٩٤. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
٩٥. د یوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
٩٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري
٩٧. ناکامه مینه (پښتو ناول)
٩٨. سنګلاخ دره او معماري
٩٩. عشق در کانتینر ها (ناول به زبان دری)
١٠٠. مادل اندازه گیری اسلامی
١٠١. په ګاونډ هېواد کې زړه بایلل (پښتو ناول)
١٠٢. بازی ها وسپورت های محلی مردم افغانستان - جلد اول
١٠٣. منار های غزنی – گذشته و حال
١٠٤. توري چشمې (عینکې) پښتو ناول
١٠٥. د چک ولسوالۍ نه (٩) برجه کلا
١٠٦. د یوې شپې ناوې (بهرنی پښتو ناول
١٠٧. ښکلا (پښتو ناول)
١٠٨. د نارنج غونډۍ
١٠٩. د چوکې دهقان (بزګر، کروندګر)
١١٠. مشت نمونه خروار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
..........


۱۱۱. قلعه برگد عبدالاحمد خان
۱۱۲. قلعه بلند کلوله پشته
۱۱۳. منار غزنی الهامی برای منار جام
۱۱۴. د افغانستان تاريخي کلاکانو ته، یوه لنډه کتنه
۱۱۵. د کونړ (کنړ) کلي والي ودانۍ او وروستۍ زلزله
۱۱۶. در آرزوی انجنیر شدن
۱۱۷. پانه ژیړه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه

..........

**د کار لاندې کتابونو لیسټ**

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانه ژیړه شوه
۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰

**د وخت او امکان په صورت کې**

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# The leaf
# Turned yellow



Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**